

# وحشتناکه دوران

د شاندور پتوفي ژوند اوشعرونه

ژباړه: فرهاد ویاړ

# وحشتناکه دوران

## شاندور پتوفي

ژباړه: فرهاد وياړ

وحشتناکه دوران

د شاندور پتوفي ژوند او شعرونه

ژباړه: فرهاد ویاړ

بریښنايي خپریدنه: ۱۳۹۸

مينه او آزادي
دواړه غواړم
ځان مې قربانوم
د مينې لپاره
او مينه مې
د آزادۍ لپاره

**پتوفي**

# لیکلړ


زما کلیمې ........................................................................................ ۱
د شاندور پتوفي ژوند او شعرونه ............................................................... ۳
شعر............................................................................................... ۱۸
زما ترانې ......................................................................................... ۲۰
زاړه پوشه اتلان .................................................................................. ۲۲
جګړه مې په خوب ولیده.......................................................................... ۲٤
یادګاري ........................................................................................... ۲٥
ای تقدیره!..... ..................................................................................... ۲٦
یو فکر مې زوروي ................................................................................ ۲۸
تا ته پسرلی ګران دی!............................................................................. ۳۱
ماڼۍ او جونګړه .................................................................................. ۳۹
سپیان او لیوان..................................................................................... ٤۲
د نولسمې پیړۍ شاعران!.......................................................................... ٤٥
د ولس په نوم ..................................................................................... ٤۸
ولس ............................................................................................... ٥۱
زغم ................................................................................................ ٥۲
باټوکان ............................................................................................ ٥٥
خزاني ترانه ....................................................................................... ٥۸
د سپمتبر پای * .................................................................................. ٦۱
د سوالګر قبر...................................................................................... ٦۳
ملي سرود ......................................................................................... ٦٦
د ۱۸۴۸ د مارچ پنځلسمه ........................................................................ ٦۹
سیند څپاند شوی .................................................................................. ۷٤

زما مینه، زما توره .................................................................................... ۷۶
ملت ته.................................................................................................. ۷۹
جمهوریت.............................................................................................. ۸٤
انقلاب ................................................................................................. ۸۷
سرتیرو ته درناوی وکړئ.............................................................................. ۸۹
د ترانسیلواني پوځ ته .................................................................................. ۹۵
وحشتناکه دوران ...................................................................................... ۹۷

# زما کلیمې

وحشتناکه دوران؛ د جنایتونو دوران، د ښکېلاک او زبېښاک دوران، د زېورتیا او مېړانې دوران، د مینې او آزادۍ دوران؛ هغه دوران چې شاندور پتوفي په کې وزیږید، زلمی شو او د آزادۍ په مینه بلهاري شو. شاندور پتوفي په دغه وحشتناکه دوران کې، که له یوې خوا د ښکېلاکګرو په وړاندې راپاڅیږي؛ له بلې خوا د خپلې میرمنې مینه پالي؛ که له یوې خوا په یوه لاس د آزادۍ توره خوځوي؛ په بل لاس د خپلې میینې، د خپلې محبوبې، د خپلې میرمنې؛ اننګي نازوي او زلفې یې نڅوي.

شاندور پتوفي، په دغه وحشتناکه دوران کې، د خپلواکۍ ډګر ته ځي. وسله وال ځي؛ هم له خپلې تورې سره، هم له خپلو شعرونو سره. دا دواړه په ګډه په یوه جبهه کې، د استقلال او خپلواکۍ په جبهه کې جنګوي، چې د ښکېلاک تربرمی ووژني، فاشیست جاهلان وځپي او د آزادۍ، دموکراسۍ او برابرۍ ډیوه د دغو ستمګرو پر رنګیدلې ماڼۍ بله کړي.

پتوفي، د خپلواکۍ مینه وال و، د هغه خپلواکۍ لیوال و چې د ولسونو د هوساینې سره مل شي، لوټماران او ډوزماران وځپي، میرمنې له انساني ژوندانه برخمنې شي او ماشومان له موسکا پرته بل څه و نه پیژني. پتوفي هغه خپلواکي چې د ستمګرو لوټمارانو په انډوخر، خرمستۍ او ستمګرۍ ککړه وي، د اسارت او مریتوب تداوم ګڼو.

شاندور پتوفي د دې تر څنګ چې یو مبارز و، د تئاتر هنرمند او شاعر هم و. هغه د نړۍ د نومیالیو شاعرانو په کتار کې راځي. شعر یې نه شنډ و او نه هم په خچنو خیالونو لتاړ. هغه، شعر د وسلې په توګه کارو، شعر یې هغه خنجر و چې د ستمګرو پر ورمیږ په بیرحمۍ تیریدو. دهغه شعر زموږ د اوسني ډیري شاعرانو په شان، لټ، تنبل، خیرن او تخدیرونکی نه و، بلکې د خوځانده، څپانده او بهانده سیند په شان یې پر ستمکارانو، لوټمارانو، باټوکانو، پانګوالو او ارتجاعي ځواکونو یرغل وړو او د ولسونو د هیلې کرونده یې خړوبوله؛ دردا چې په اوسني وحشتناکه دوران کې لا زموږ ډیري شاعران د معشوقې د زلفو سپېړنې قافیې او ردیفونه

سینګاروي او په داسې حال کې چې واټونه د ستمځپلو انسانانو پر وینو رنګینیږي، هغوې لا د شونډو په سوروالي کې مست او ملنګ، په شرابو کې لمده او خیشته پراته دي.
شاندور پټوفي تر دمګړۍ پښتو ادبیاتو ته نه دی پیژندلی شوی او په دې ژبه کې د پټوفي د شعرونو او پېژندګلوي نیمګړتیا احساسیږي. پټوفي خورا زیات شعرونه لري، ښایي په یو وړ او مناسب وخت کې ټول شعرونه یې پښتو ته وژباړل شي. خو ما د خپل وس او توان سره هڅه کړې چې د دې نامتو شاعر د پیژندګلوۍ تر څنګ، ځینې شعرونه یې وژباړم. د ژباړې لپاره مې د محمود تفضلي لیکنه غوره کړې چې باورمن یم د دې مبارز شاعر په اړه هر اړه خیزه لیکنه ده.
د شعر ژباړه ډیر ستونزمن کار دی، په تیره بیا چې له لومړۍ ژبې څخه نه وي. د دې لپاره مې هڅه کړې چې داسې ژباړه وکړم چې د شاعر لید او اند تر لوستونکي پورې ورسوم. ډاډه یم چې یوه ورځ به ځوانان د شاندور پټوفي د شعرونو لا ښایسته، بډایه او په زړه پورې ژباړې وړاندې کړي او د دې نومیالي مبارز شاعر حق به ادا کړي.
د روزګار په دې پیچومو شیبو کې ښایي له خپلې مینه ناکې لور او له ګران او وران زوی مننذوی ووسم چې وخت یې راکړ چې دا ژباړه پای ته ورسوم. همدا ډول د خپلې ګرانې میرمنې د زیار، زحمت او مینې مننذوی یم چې بوختیا راته په ورین تندي زغمي او تل مرستندویه ده.
ویاړم چې تر څنګ مو لرم!

په مینه
ویاړ

# د شاندور پتوفي ژوند او شعرونه

شاندور پتوفي، د مجارستان تر ټولو ستر انقلابي شاعر، د نړۍ د نومياليو شاعرانو په کتار کې راځي. پتوفي، هغه شاعر او اتل دی چې شعر او ژوند يې دواړه، د يوه ملت آزادي غوښتونکې هيلې انځوروي. هغه شاعر دی چې شعر يې له ژوند او له ټول ملت سره نه شليدونکی تړاو لري او نه يوازې دا چې شعرونه يې، بلکې ټول وجود او ژوند يې د خپل ملت او د ټولې نړۍ د انسانانو د راتلونکي او نيکمرغۍ په پار وقف کړ.

د پتوفي خصوصي ژوند، د يوه عادي ژوند په توګه کوم فوق العاده څه نلري، خو د هغه د واقعي ژوندانه د پيژندنې لپاره بايد د يو ملت د تاريخ ټولې پاڼې ولټوو. ځکه، د هغه ژوند د ملت او هيواد له تاريخ او وياړونو سره تړلی دی.

شاندور پتوفي د ۱۸۲۳ کال د جنوري په لومړۍ ورځ د لر مجارستان په يوه کوچني کلي کې چې **کيش کوروش** نوميده، وزيږيد. کورنۍ يې کليواله وه. پلار يې بزګر و چې وروسته يې په کلي کې يوه هټۍ خلاصه کړه او مور يې هم يوه ساده کليواله ښځه وه. سره له دې چې کورنۍ يې مالي ستونزې درلودلې خو د پتوفي پلار او مور ډير کوښښ کاوه چې زوي يې تر هغه چې کولای شي درس ووايي، خو دا هيله د مالي ستونزو او د ژوند نورو فشارونو له امله خړوبه نشوه.

د پتوفي ژوند له کوچنيوالي په بيوزلۍ او تنګسيا کې تير شو او له شپاړس کلنۍ وروسته يې ژوند د مبارزې او رنځونو د يوې نه شليدونکې لړۍ ښه ومونده. لومړني شعرونه يې، چې له همدې وخته پيليږي، د هغه د رنځونو او کړاونو د انځورولو تر څنګ د پوهې لپاره د هغه بې سارې تنده بيانوي.

په دې وخت کې پتوفي له ښوونځي وتښتيد او د تئاتر د يو هنرمند په توګه يې پياده د هيواد په ناپايه دښتو کې د اوږدمهاله سفرونو يون وکړ. سره له دې چې له تنې ضعيفه او کمزوری او بدن يې خوار او وچ و، خو هيڅکله يې د ستومانتيا احساس ونکړ. دې اوږدو سفرونو هغه د

خپلو هیوادوالو د ژوندانه او بدمرغیو له ژورتیاوو سره آشنا کاوه. دهقانان او کروندګران یې لیدل چې لکه اسیران او مریيان بې له کومه حقه د سترو مالکانو لپاره کار کوي او په جګړو کې د همدې بڼایو د حق ساتلو لپاره وژل کیږي او بیا لکه درویزګرو دربدره او سرګردانه په بیوزلۍ او تنګسیا کې مړه کیږي.
پتوفي، د دې سفرونو په ترڅ کې یوازې د خلکو د ژوندانه پر مطالعې بسنه نه کوله، بلکې له محرومیتونو او ستونزو سره سره یې خپلې زده کړې کولې، بهرنۍ ژبې یادولې، له تاریخ او ادبیاتو سره یې آشنایي پیدا کوله، د نړۍ او د خپل هیواد په ادبیاتو کې له مخکنیو شاهکارونو څخه  نوي شیان زده کول، د خپل وطن ولسي داستانونه او افسانې یې راټولولې او په دې ډول یې دائماً د خپلو معلوماتو کړۍ پراخوله.
پتوفي د فرانسې د ستر انقلاب له تاریخ سره مینه درلوده. د دې ستر انقلاب د پېښو مطالعې، د هغه سترګې خلاصولې او په دې یې پوهوو چې باید د خپل وطن د محرومو طبقو د حق لپاره چې د سترو مالکانو او اشرافو په لاس کې اسیر دي، قیام وکړي؛ په ځانګړي توګه د فرانسې انقلاب ۱۷۹۲ او ۱۷۹۳ خونړي کلونو پر هغه زیات اغیز درلوده. هغه په خپله ویلي دي:

«د فرانسې د انقلاب تاریخ، زما سهارنۍ دعا ده،
دا نوی انجیل د آزادۍ تعلیم ورکوونکی او د نني بشر ژغورونکی دی.»

د پتوفي د ژوندانه مطالعه د مجارستان د تاریخ له مطالعې پرته ناشونې ده. د نولسمې پیړۍ په دویمې څلورمې کې ـ یعنې د شاندور پتوفي د لنډ ژوند په دوران کې ـ مجارستان د اتریش امپراتورۍ مستعمره او ښکېلاکمېنه وه چې د **هابسبورګ** اتریشي کورنۍ تر ظالمانه حکومت لاندې ژوند کاوه. د اتریشیانو د واکمنۍ دمخه هم، مجارستان څه باندې یوه نیمه پیړۍ د عثماني ترکانو د وحشي ښکېلاک په منګولو کې ښکېل و.

په پاریس کې د فرانسې د انقلاب د لمبو په پورته کیدو سره، آزادي غوښتونکي افکار او د بشرپالنې سره لیوالتیا زیاته شوه او د آزادۍ، برابرۍ او ورورګلوۍ شعارونه په ټولې اروپا کې خپاره او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې اسیر او محروم ملتونه او طبقې په خوځښت راغلل.
د **ناپلئون** سرتیرو ټوله اروپا تر پښو لاندې کړې وه، سره له دې چې **بناپارت** انقلاب ته خیانت وکړ او سرتیرو د دې خیانت له امله د ناپلئون امپراتورۍ لپاره تورې وهلې، خو دې سرتیرو به له ځان سره هر چیرې انقلابي شعارونه وړل او د **مارسییز** انقلابي سرود به هر ځای کې د هغوې له خولې انګازې جوړولې؛ چیرې به چې رسیدل، په هر هیواد کې به چې وو، نو ځوانانو ته به یې ویل:

ځئ چې ځوو د وطن بچیانو
د ویاړنې ورځ رارسیدلې
زموږ په وړاندې جباریت
خونړی بیرغ رپوي ...

څنګه چې ټول ملتونه په خوځښت راغلي وو، د مجار ملت هم د خپلې ملي خپلواکۍ او آزادۍ د خوندیتوب لپاره کوښښ کاوه او په دې منځ کې د پتوفي په شان روڼ اندو، نه یوازې د خپلې ملي خپلواکۍ، بلکې د نورو ملتونو د خپلواکۍ په لار کې هم مبارزه کوله او په دې مبارزه کې غوښتل چې نه یوازې د پردیو او اجنبیانو د حکومت اغیزه له خپل هیواده ورکه کړي، بلکې په ورته وخت کې ټولنیز فساد او د واکمنو طبقو ظلم هم نابود او د هیواد اسیر او محروم ولسونه نیمکرغی او آزادۍ ته ورسوي.
د ملتونو هلوځلو او د آزادي غوښتونکو ولسونو ډله ایزو مبارزو، د اروپا بلوسګر حکومتونه او جابرې سلطنتي کورنۍ اندیښمن کړې وې. د اروپا ارتجاع، وروسته له هغې چې په خپل ګمان سره یې د فرانسې د انقلاب اور وواژه او ساقطه سلطنتي کورنۍ یې بیرته سلطنت ته راستانه کړه، د اتریش د ستمګر او ځان غوښتونکي صدراعظم **مترنیخ** په لارښوونې یې ظاهراً یو

**سپيڅلي اتحاد** رامنځته کړ چې په کې د اروپا تر ټولو ستمګر پاچاهان يعنې د روسيې تزار، د اتريش امپراتور او د پروس پاچا له يو بل سره متحد کيدل څو په اصطلاح «د مسيحيت او د مسيح د سپيڅلو تعليماتو د دفاع» لپاره چې «د ماجراجويانه قيامونو» لخوا له خطر سره مخامخ شوي وو، خپل ځواکونه په ګډه وکاروي. حال دا چې په حقيقت کې دا په اصطلاح «سپيڅلی» اتحاد يوازې د اروپايي ملتونو د ملي پاڅونونو او د آزادي غوښتونکو غورځنګونو د ځپلو لپاره و.

دا ښکاره کوي چې مجارستان د شاندور پتوفي په ماشومتوب او زلميتوب کې د اتريش تورې او خونړۍ امپراتورۍ تر لاندې و. خو په دغه وخت کې د مجارستان آزادي غوښتونکي د خپلې ملي آزادۍ په لټه کې وو او توانيدلي وو چې د مجارستان لپاره يو څه خپلواکي لاس ته راوړي چې د **ديت** په نامه د يوې دولتي جرګې جوړيدل له هغو څخه يو و. په دې جرګه کې يوه اقليته سمونپاله ډله د ټولنيزو اصلاحاتو غوښتونکې او د يوه آزادپلوه کورني سياست او بشپړې ملي خپلواکۍ د لاسته راوړونې پلوي وه. د ۱۸۲۵ کال راپديخوا د «ديت» جرګې اقليت د وخت په تيريدو ځواکمن کيده.

دا هغه مهال دی چې پتوفي، د مجار ملت يو نابغه او با استعداده زوي نړۍ ته راځي او د خپل ماشومتوب او زلميتوب لومړني کلونه تيروي. پتوفي د وخت په تيريدو له خپلې کړيدلې ټولنې سره آشنا کيده او ورو ورو يې د سياست او ټولنيز ژوندانه په لالهانده ډګر قدم ايښود.

په دې وخت کې پتوفي چې د تئاتر لوبغاړی و، د مجارستان بيلابيلو سيمو ته سفرونه کول. له ۱۸۴۰ کال، د نولس کلنۍ له پيل سره سم يې د مجارستان د پلازمينې بوداپست له يوې ادبي او ټولنيزې مجلې سره د ليکوال په توګه په کار پيل وکړ.د پتوفي پراخه مطالعې، په اوږدو سفرونو کې شخصي تجربې او فوق العاده نبوغ، دری واړوو هغه ته يو ځانګړی روښانه ليد ورپه برخه کړی و.

پتوفي، د دهقانانو د وحشتناکه بيوزلۍ او د هغوې له غيرانساني ژوندانه سره آشنا و، له هغوې سره يې ژوند کړی و او د همدې لپاره يې له هغوې سره بی ساری مينه درلوده او له واکمنو طبقو، مالکانو، شتمنو او سترو ملايانو څخه، چې خلك يې بدمرغۍ ته کاږل، کرکه کوله. د

همدې لپاره هغه چې د بشپړې ملي خپلواکۍ پلوي و، په ورته وخت کې د ژورو ټولنیزو اصلاحاتو د پلی کیدو غوښتونکی هم و. پتوفي د دې موخو د حصول لپاره، یو انقلابي و. د پارلمان دننه د هغو استازو له مبارزاتو سره په جدي توګه مخالف و چې غوښتل یې د عذر او زاریو له لارې د خلکو حقوق تر لاسه او د هیواد خپلواکي خوندي کړي. هغه باورمن و چې د ملت د انقلابي ځواکونو په کارونې او د محرومو طبقو له ملاتړ پرته یوې پریکندې پایلې ته رسیدل ناشونی ده.

له کله چې پتوفي خپل مطبوعاتي فعالیت پیل کړ، ورو ورو په هغه ځلانده ستوري بدل شو چې ټول انقلابي عناصرو یې پر ځان لکه شپول راچاپیرول. دې انقلابیانو له سمونپاله او رفورمیستي غوښتنو سره مخالفت درلود او د یوه انقلابي کړنلارې وړاندیز یې کاوه چې په هغه کې د دهقانانو د مریتوب قوانین الغاء شي، د خلکو لپاره دموکراتیکې آزادۍ ټینګې شي او د هیواد ملي خپلواکۍ خوندي شي. پتوفي له همدې وخته، تر ژرمهاله او پرتمینې مړینې پورې تل باید د پیښو په زړه او د انقلابي خلکو د کتارونو په لومړۍ کرښه کې ولټوو.

د مجارستان د خلکو انقلابي لیوالتیا او غوښتنې کال په کال زیاتیدلی. د همدې کوښښونو او هلو ځلو په پایله کې په ۱۸۴۴ کال کې د اتریش امپراتورۍ اړ شوه چې د مجار ملي ژبه په مجارستان کې د رسمي ژبې په توګه وپیژني. خو ځرګنده وه چې په دې ډول اصلاحاتو نه د پتوفي انقلابي تنده ماتیده او نه هم د مجار ملت غوښتنې پای ته رسیدلی.

د پتوفي ډیری شعرونه له پرمختللي او انقلابي فکر او لید سره د مجارستان په هر ګوټ کې خپریدل چې د ولسونو د دایمي راویښنې لامل کیدل. د هغه **د پاچاهانو دښمن،** زړوره قطعه چې د ۱۸۴۴ کال په دسمبر کې یې ویلی، ښکاره کوي چې دا یوویشت کلن انقلابي ځوان؛ پاچاهانو، امپراتورانو او تزاریانو ته په بی پایه کرکه او نفرت ګوري. د وروستي کلونو په شعرونو کې هغه راتلونکي ته په لا روښانه لید ګوري او د انقلاب انتظار کوي.

د **یانوش پهلوان** منظومه چې په دغه وخت کې خپره شوی د هغه له لطیفو آثارو څخه ده چې د خپل هیواد له ولسي او فولکلوریک داستانونو څخه یې اقتباس کړی، د دې په ترڅ کې چې د خپل وطن د یو دهقان حماسي او افسانه اي برخلیک په بې پایه لطافت پنځوي، خپل د هیواد

پالنې احساسات هم له هغه سره یوځای کوي. په همدې وخت کې د **قضاوت** په نامه یوې قطعې کې وایي:

ای راتلونکی، دا تور حجاب دې چې د رازونو پرده غوړونکی دی
زما د وړاندوینې د احساس جادو یې څیروي
د دې پردې تر شا، یو پټ راتلونکی وینم
چې اول مې ډاروي، په ویره مې اخته کوي
بیا مې په زړه کې ستره ښادي جوړوي....
....
ځمکه به د دوو متضادو لښکرو ډګر وي
د نیکملو او بدملو لښکرونه
نیکمل چې تر هغه وخت تل ځپل شوي
هلته به بریالي وي....

پتوفي، د **خراړه او بلبل** په نامه په یوې بلې قطعې کې وایي:

بشریت ناروغه
ځمکه یو روغتون
تبه یې ژوویي
تري تموي یې
.....
په دې بدمرغو ورځو کې
آسمان مونږ نه هیروي
د دردونو درملنې لپاره مو

يو شفابخښونکی راستوي
هغه به راورسيږي:
هم دا اوس په لاره دی
ډير ژر به راورسيږي،
بی له دې چې غليمان مو پوه شي.

ستا په لورې ترانه مې لوړيږي
د چنګ هر آواز مې پورته کيږي
ته زما د ټول شعر الهام يې
ته يې چې اوښلنې سترګې مې دې لولي
تا ته سلام کوم
تا ته ای راتلونکی
تا ته!
ای د ناروغه بشريت شفا بخښونکی تا ته!.....

پټوفي ځان او نور د انقلاب لپاره چمتو کوي. د هغه شعرونه لکه د ځواکمنو متروکو په شان انګازې کوي، راکښته کيږي ځو ويده راپاڅوي، لټان په لاره کړي او سترړيا او سستي له منځه ويسي. په ټولو شعرونو کې خيال روږدي او رمانتيک شاعران، ډارن او تن پالونکي ځوانان، قړوتي او سازشکاره سياستوالان، بيکاره او خودخواه هوساپالان، ټول تر نيوکې لاندې نيسي او ځپي يې. په شعرونو کې هيله کوي چې په بلواګانو او د جګړې په ډګرونو کې د آزادۍ او د هيواد او هيوادوالو د سوکالۍ لپاره ځان قربان کړي، هغه هيله چې بالاخره ډير ژر په حقيقت بدليږي.
۱۸۴۸ کال، په اروپا کې د انقلابونو او پاڅونونو کال دی. په دې کال کې د تورې ارتجاع د څو کلونو واکمنۍ وروسته، د انقلاب توپاني څپو يوځلي ټوله اروپا ونيوله. پاريس، په فبروري

میاشت کې د انقلاب د پیلیدو شاهد و چې په پایله کې **لوئي فیلیپ** له واکه وشړل شو او یوځل بیا جمهوریت (د فرانسې دویم جمهوریت) ټینګ شو. یو څه وروسته، د مارچ میاشت په لومړیو کې، د اتریش په پلازمینې **وین** کې آزادي غوښتونکو ځوانانو د دموکراتیکو آزادیو تر لاسه کولو لپاره انقلاب وکړ او **مترنیخ** دا جبار او ظالم صدراعظم یې څغاستی ته اړ او انګلستان ته وتښتید. په همدې وخت کې په المان کې ځینې انقلابونه پیل شول چې پایله یې د «پروس» د پاچاهانو د استبدادي حکومت زوال او د مشروطیت ټینګیدل وو. په ایټالیا کې هم د انقلاب څپو ټول هیواد ونیو. د اتریش امپراتورۍ په بیلابیلو برخو کې، په **بوهم**، په **صربستان**، په **ترانسیلواني** او په نورو سیمو کې خونړي انقلابونه پیل شول.

د دې پاڅونونو سره هم مهاله په مجارستان کې هم انقلاب پیل شو. دا انقلاب په مارچ میاشت کې له **بوداپست** څخه پیل او د انقلابیانو مشري، د ملت او انقلاب شاعر، شاندور پتوفي کوله.

په هغو زمانو کې لا بوداپست د نن په شان یو ښار نه و. بلکې **بودا** او **پشت** دو جلا ښارونه وو چې د یو بل ګاونډي وو. «بودا» شتمن او د بډایو ښار او «پشت» بیوزله او د کارګرانو ښار و.

انقلاب د مارچ په پنځلسمه په «پشت» کې پیل شو. پتوفي او څو نورو ځوانو دوستانو یې د انقلاب رهبري کوله. دوی په همدغه ورځ د مطبوعاتو سانسور لغو کړ، چاپخونې یې ونیولی او د **ملي سرود** په نامه د پتوفي معروف شعر چې دوه ورځې وړاندې لیکل شوی و چاپ او خپور کړ او په هماغه ورځ په خپله پتوفي دا شعر د خلکو لپاره ولوست. دوی د «دژ بودا» زندان چې د پاریس د **باستیل** په شان، یو ستر وحشتناکه زندان و او په هغه کې یو شمیر آزادي غوښتونکي زنداني وو، ونیو او زندانیان یې آزاد کړل. له دغه ورځې وروسته یې د **مارچ پنځلسمه** په نامه یوه ورځپاڼه خپره کړه چې پتوفي په هغه کې خپل شعرونه او اندونه خپرول.

په «دیت» جرګه کې د کیڼ اړخي اقلیت کړنلاره، چې ۱۲ مادې یې درلودی او د ملت لپاره یې دموکراتیکې آزادیانې او د مجارستان لپاره یې ملي خپلواکي اعلاموله، تصویب شوه. د عمومي امنیت یوه کمیټه تاسیس شوه چې پتوفي هم د هغه غړی و.

دوې ورځې وروسته د مارچ په ۱۷مه د وین دربار ناچاره د مجارستان د پرګنو د انقلابي ځواک په وړاندې تسلیم شو، خو بیا هم انقلاب په خپلې لارې مخې ته درومیده او پتوفي هم

خپل ښکلي شعرونه ليکل او خپرول. پتوفي په دې وخت کې ۲۰ کلن و. دا هغه وخت و چې د مجارستان ملي اتل **لايوش کشوت** چې د ديت جرګې استازې او د اقليت لارښود و، د انقلاب سياسي لارښودنه په غاړه درلوده او پتوفي له هغه سره مرسته کوله.
د وين ارتجاعي دربار سره د دې چې له ناچارۍ تسليم شوی و خو له مقاومته يې لاس نه اخيست او په لټه کې شو چې هغه څه يې چې له لاسه ورکړي، بيرته تر لاسه کړي. د امپراتور په دستور له بيلابيلو ايالتونو څخه پوځي ځواکونه راغونډ او د انقلاب د ځپلو لپاره واستول شول. په همدې وخت کې و چې پتوفي او يارانو يې اعلام کړ چې د دښمن سره د مقابلې لپاره بايد ټول خلک وسله واخلي او په وسله واله مقاومت پيل کړي. همدا شپې او ورځې وې چې دوی د مجار هغو سرتيرو ته چې د امپراتورۍ په نورو سيمو کې په پوځي واحدونو کې خدمت کاوه، اوڅاره بيانيه خپره کړه چې معروف شعار يې دا و:

«وتښتئ او راستانه شئ.»

پتوفي په ورته وخت کې چې د مجارستان ملي خپلواکۍ لپاره مبارزه کوله په دې ښه پوهيده چې د ملتونو خپلواکي له يو بل څخه جلا نه ده او د همدې لپاره په ورته وخت کې چې د اتريش او د دغه هيواد د امپراتورۍ له نظامي ځواکونو سره جنګيده، د خپلو دوستانو سره يې يوځای د مجارستان له جرګې غوښتل چې د وين انقلابيونو ته د مرستې لپاره کمکي ځواکونه وليږي. کله چې جرګې غوښتل د وين دربار د ژمنو او دوکه مارۍ له امله د ايټاليا د آزادي غوښتونکو انقلابونو د ځپلو لپاره د سرتيرو له استولو سره هوکړه وکړي، پتوفي او دوستانو يې په کلکه مخالفت وکړ او د دې کار مخنيوی وکړ. همدا کار لامل شو چې څو مياشتې وروسته کله چې د مجارستان د خپلواکۍ جګړې د مجاريانو په ماتې او د اتريش په بيا واکمنۍ تمامې شوې، د مجار يو شمير وطنپالو او آزادي غوښتونکو د ايټاليا له انقلابي ځواکونو سره د مرستې په پار په داوطلبانه ډول د هغه هيواد له انقلابيونو سره يوځای شول چې د هغه ملت د آزادۍ لپاره د ايټاليا نوميالي انقلابي،**ګاريبالدی**، سره يوځای مبارزه وکړي.

که څه هم د پټوفي د ژوندانه د بیان لپاره باید د مجارستان د انقلاب ټولې پیښې نقل کړو؛ خو په یوه کلمه کې ویلی شوو چې پټوفي خپل ټول څه د انقلاب په لار کې قرباني کړل.

د جګړې د لومړنیو شیبو له پیل څخه، پټوفي د سرتیرو د راټولو لپاره لاس په کار شو او یوځل بیا یې د هیواد ګوټ ګوټ ته سفر وکړ. ویناوې یې، شعرونو یې او کړنو یې ټول خلک آزادي غوښتونکي جګړې ته د ګډون لپاره رابلل. سره له دې چې دوستانو یې تل پر هغه اعتراض کاوه او ورڅخه یې غوښتل چې ځان په خطر کې وانچوي، خو څنګه چې هغه یو افسر و، نو شخصاً به یې په جګړو کې ګډون کاوه او تل به په لومړني کتار کې جنګیده.

د همدې جګړو په ترڅ کې و چې لهستانی جنرال، **بم**، د مجار ملت د آزادۍ لپاره له مجارستاني ځواکونو سره یوځای شو او د «**ترانسیلواني پوځ**» قومانده یې په غاړه واخیسته او پټوفي د مجارستان د انقلاب د دې سردار؛ ښه دوست، مرستیال او همرزمه شو.

پټوفي کله هم یو قدم شا ته کینښود. آن، کله چې د اروپا ارتجاعي ځواکونو یو ځل بیا د «سپیڅلي اتحاد» په نوم د آزادي غوښتونکو انقلابونو د ځپلو لپاره تړون وکړ او د تزار ځواکونو او د اروپا ژاندارم، د خپل اتریشي خونخوره ورور د مرستې لپاره مجارستان ته دننه شول او پر ملي ځواکونو ډګر تنګ شو، پټوفي بیا هم له جګړې لاس وانخیست.

د هغه اوڅاره شعرونه چې په دې وخت کې ویل شوي دي، لکه: **سیند څپاند شوی/ ملت ته/ ۱۸۴۸/انقلاب/ جمهوریت/ د ترانسیلواني پوځ** او بالاخره وروستی مهم شعر یې چې **وحشتناکه دوران** نومیږي او د ۱۸۴۹ په جولای کې لیکل شوی دی؛ ټول د پټوفي د فداکاره اروا ستروالی او د هغه هیواد پالنه او آزادي غوښتنه او د انقلاب لوړې ژورې منعکسوي.

پټوفي په کلکه باور درلود چې د مجارستان د خپلواکۍ جګړې او د اتریش د امپراتورۍ د ځواکونو په وړاندې د دې ملت میړنی مقاومت، د هغه ورځې اروپا د ټولو انقلابي ځواکونو لپاره د لارښود څراغ ښه درلوده او د همدې لپاره یې په دې لاره کې له هیڅ ډول کوښښ ډډه نکوله.

د ۱۸۴۹ په دوبي کې د جنرال «بم» پوځ د یو پیاوړي او ځواکمن لښکر په وړاندې خپلې وروستۍ پرتمینې جګړې پر مخ بیولې؛ پټوفي د یوې سختې جګړې پر مهال د جولای په ۳۱ مه

په **شګشوار** کې ووژل شو. په دې وخت کې شاندور پتوفي د خپل عمر یوازې شپږ ویشت کاله او اووه میاشتې تېرې کړی وی.
په دې ډول هغه اتل چې خپل ټول عمر او ټول ځواک یې له انقلاب او آزادۍ بلهاري کړی و، د جګړې په ترخ کې د آزادۍ په لاره کې خپل ژوند ورکړ او د خپل لنډ عمر سرګذشت یې په خپلې وینې د یوې ویاړمنې حماسې په توګه د ملتونو د آزادۍ په تاریخ کې ثبت کړ.
پتوفي، د پیښو د توپاني سیلی په وړاندې د بلیېدې ډیوې په شان خپل ټول وجود وسوځوه چې نورو ته تکه تیاره لاره روښانه کړي. د دې لپاره د هغه ژوند او مرګ په خپله د یوه ستر او تلپاتي شعر بڼه لري.
پتوفي، د مجارستان د ولسونو لپاره یوه الهام بخښونکی افسانه شوه. په دې ډول چې د هغه د شجاعانه مړینې وروسته مجاریانو تر ډیرو کلونو پورې هیله درلوده چې پتوفي وژل شوی نه دی او داسې ګمان یې کاوه چې ځان یې چیرې پټ کړی چې په یو وړ وخت د خپلو ولسونو سره یوځای د هیواد د آزادۍ لپاره بیا پاڅون وکړي.
پتوفي د مرګ پر مهال، پیغله میرمن، یو ماشوم او د زړورو شعرونو او خاطراتو یوه ټولګه پریښوده. میرمن یې د یوې شتمنې کورنۍ لور وه چې له پتوفي سره د مینې په پار وتښتیده او په پټه یې یو له بل سره واده وکړ. هغه ته خپله میرمن ډیره ګرانه وه. خو دې ځواکمنې او پیاوړې مینې هیڅکله ونشو کړای هغه د ولس سره له مینې، د وطن سره له مینې او د آزادۍسره له مینې لاس په سر کړي. د پتوفي له مرګ وروسته، میرمن یې ناچاره شوه چې بل واده وکړي او زوي یې ځوانیمرګ شو.
خو د هغه شعرونه او ویاړلي خاطرات د تل لپاره پاتې شول او د سرلوړي بیرغ په شان، د مجار ملت د مبارزې لپاره ځواکمن الهام بخښونکي وګرځیدل.
پتوفي، توانمن او هڅاند شاعر و چې په خپل لنډ عمر کې ډیر شعرونه وویل. له ۱۸۴۲ کال وروسته، یعنې د شپږ نیمو کلونو په موده کې هغه څه باندې ۸۰۰ منظومې او نور اوږده او لنډ شعرونه وویل. د پتوفي شعرونه ساده او جذاب دي او په ټولو شعرونو کې د هغه ملت آواز غوږونو ته رارسیده چې راویښیږي. له هغه ځایه چې پتوفي په خپله د ملت هغه زوی و چې د

ولسونو له منځه راپورته شوی و او له ولسونو سره يې ژوند کړی و، له هر چا نه يې په ښه ډول د خلکو آرمانونه او هيلې پيژندلی او بيانولی.

د پتوفي دوران، په اروپا کې د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د رومانتيزم له پېر سره هم مهال دی او په دې ډول طبيعي ده چې د مجار د ډيرو نورو شاعرانو په شان د خپل وخت د دې ځواکمن بهير تر اغيز لاندې پاتې شوی وي. د پاريس د انقلاب د مبارز شاعر، **برانژه** شعرونه يې خوښيدل او المانی آزادي پلوه شاعر، **هانری هاينه** او د انګليس آزادي غوښتونکو شاعرانو **شلي** او **بايرون** له آثارو سره آشنا و. د **شکسپير** د آثارو ځينې برخې يې په خپله مجاري ژبې ته وژباړلی او له **کوريولان** قطعې څخه د هغه ژباړه دومره عالي وه چې د سلو کلونو په تيريدو لا څوک نه دي توانيدلي چې له هغه څخه ښه ژباړه وړاندې کړي.

که څه هم پتوفي له شپږو يا اوو کلونو ډيره شاعري ونکړه او په ځوانی کې ووژل شو، خو د مجارستان او د نړۍ يو له سترو شاعرانو څخه ګڼل کيږي. د هغه د ستروالي راز په دې کې دی چې خپل زړه او شعر، دواړه يې د خلکو او ملت له زړه سره تړلي وو. هغه، څه چې له کتابونو نشو يادولی، يعنې د خپل شعر ژبه او له هيواد او آزادي سره مينه، د ولسونو او د خپل هيواد د پرګنو په ښوونځي کې زده کړل. په ماشومتوب کې او بيا وروسته کله چې پياده د خپل هيواد ګوټ ګوټ ته يې سفر کاوه، هر چيرې به يې د خلکو داستانونه، افسانې او ترانې اوريدلی، په شپو شپو به د کليو په قهوه خانو او کاروان سراوو کې له دهقانانو سره کښيناسته او له هغوې سره او د هغوې لپاره به يې سيمه ايزه ترانې ويلی او اکثره به يې پر ترانو له خپل ځانه هم يو څه ورزياتول چې خلک راوپاروي. هغه د خلکو له جملې څخه و او همدا و چې په ژوندانه کې د خلکو زياته ليوالتيا له ځان سره درلوده.

له پتوفي څخه داسې يوه کيسه رانقليږي چې يوځل يې د سرتيرو په اډه کې يو سرود ليکلی و او له ليکلو وروسته خوب وړی و. کله چې سرتيري دا سرود پر ميز ګوري، رايخلي، له مخه يې ليکي او بيا يې وايي. پتوفي د همدې سرود د آهنګ په اوريدو له خوبه راپاڅيږي او شکمن کيږي چې دا سرود هغه ليکلی که سرتيرو ته له پخوا زده و؟

همدا ټولنیزه او پرګنیزه ځانګړتیا ده چې د پټوفي شعر ته برم، پرتم او ستروالی وربخښي. د رومانتیکو او لیریکو شاعرانو د خیال اوبدونکو تغزلاتو پر ځای چې یوازې یې د معشوقو په هجران کې اوښکې تویولی یا یې له خپلو فردي دردونو زګیروی کاوه او د هغو رومانتیکو شاعرانو د نهیلیزه آزادي غوښتنې پر ځای چې له آزادۍ سره د لیوالتیا سره سره راتلونکي ته نهیلي وو، پټوفي تل راتلونکي ته په زړورتیا، ځواکمنتیا، لیوالتیا او هیله منده کتل. دا ځانګړنه د هغه له صفاتو یو ځانګړی او څرګند صفت دی چې د نوموړي شعرونه د دموکرات او آزادي غوښتونکي روسي شاعر **نکراسف** له آثارو سره ورته او نژدی کوي او شاید همدا ورته والی د دې لپاره دی چې د د ې دواړو شاعرانو ټولنیز چاپیریال له یو بل سره هم ډوله او نژدی و چې دواړه یې یو شان پاللي دي.

د مجارستان د ادبیاتو په تاریخ کې پټوفي د یو لیریک شاعر په توګه پېژندل کیږي. په **معانی** کې شاعرانه واقع بیني او په **بیان** کې د ښې ځواکمنتیا او پراختیا، د هغه شعر له ادبي پلوه د مجار په ادبیاتو کې د غوره آثارو په کتار کې ودروي. د مفاهیمو په بیان کې صمیمت او صداقت او ځواك او د تصنع نشتون، د ښې تکامل، د تصوراتو نرمښت او ښاینه د پټوفي شعرونو ته تلپاتې ارزښت وربخښي.

پټوفي یو لیریك او غزل ویونکی شاعر دی چې د رومانتیکو شاعرانو په ډله کې راځي. خو له نورو شاعرانو سره د هغه توپیر په دې کې دی چې پټوفي تل خپل شعر په نوي ډګرونو او په آزادۍ غوښتنو او انقلابي سترو موخو ښاینې ته رساوه.

په **زاړه پوشه اتلان، د نولسمې پیړۍ شاعران** او د **خراړه او بلبل** په شان قطعو کې د هغه د شعر دا اړخونه په ښه ډول څرګند دي او نور شاعران هم رابلي چې د هغه په شان د خلکو د حقوقو په لار کې د مبارزې بیرغ پورته کړي، ځکه چې د هغه په اند شاعران د پیامبرانو په شان، د نیکمرغۍ په لور د خلکو د لاربنودنی لپاره د خدای راستوونکي دي. پټوفي، خپل همدا اند د **پیامبر** په نامه سترې، حماسي او فلسفي منظومه کې ځای په ځای کړی دی.

پتوفي په ورته وخت کې چې یو انقلابي شاعر دی، یو حساس غزل ویوونکی او د طبیعت بی قراره خوښوونکی هم دی. د هغه په شعر کې له طبیعت سره مینه، د میرمنې او اولاد او د هیواد او آزادۍ له مینې سره، یوځای شوی ده؛ په داسې ډول چې جلا کول یې ناشونې ده.

کله چې پتوفي د طبیعت صفت او ستاینه کوي، د مجارستان ښکلې منظرې داسې ستایي چې له وطن سره مینه راپاروي او کله چې له خپلې مینې څخه خبرې کوي د مېین زړه رپا یې له غرور او آزادۍ او عدالت غوښتنې سره تړاو پیدا کوي.

پتوفي د انسان، د ټولو انسانانو په آخري بریا باور درلود او دا بریا یې په نظر کې پریکنده او حتمي ښکاریده او د همدې لپاره په شعرونو کې احساسات له سیاست، عواطف له هیوادپالنې او آزادي غوښتنه له هیلي سره په ناجلا کیدونکی توګه یوځای شوي دي.

د پتوفي په لومړنیو آثارو کې هغه شعرونه راځي چې له سیاست لرې وو. خو هغه د ځوانۍ د لومړنیو کلونو دا یادګارونه خپل اولادونه نه ګڼل. د هغه زیات او واقعي آثار تقریباً په یوې پنځه ـ شپږ کلنې دورې کې ویل شوي چې په ورته وخت کې د هغه د مبارزې او جګړې او د دایمي هلوځلو موده وه. دا آثار دومره ارزښتمن دي چې نه یوازې د مجار د ادبیاتو په تاریخ کې، بلکې په نړیوالو ادبیاتو کې هم لوړ مقام تر لاسه کوي.

د پتوفي له مرګ وروسته تر نژدې یوې پیړۍ پورې تل د هغه د آثارو یوازې یوه برخه خلکو ته رسیده. طبیعي ده چې هیڅکله شوني نه وه چې د پتوفي په شان د یوه ستر شاعر نوم هیر او پټ کړای شي. خو له یوې خوا د ځارندوې او د ولسونو ضد رژیمونو سانسور نه غوښتل چې خلك دې د یو انقلابي شاعر له ټولو شعرونو سره آشنا شي او له بلې خوا د دې حکومتونو سره تړلي کره کتونکو د هغه آثار د «ښکلا او هنر» له پلوه تر نیوکې لاندې نیول.

د مجارستان له آزادۍ وروسته او د ولسي جمهوریت د حکومت په واکمنیدو سره، مجار ملت هغه ټول ویاړ او ستروالی چې دې اتل زوي یې وړتیا درلوده، هغه ته ستانه کړل او نن، نه یوازې چې د هغه نوم په ستروالي لمانځي او د اتلوالۍ خاطرې یې ستایي، بلکې آثار یې هم د خپلې راتلونکي لارې الهام بخښونکي ګڼي.

د مجارستان د ولسي جمهوريت وزير، **جوزوف روايي** په ۱۹۴۸ کال کې د ۱۸۴۸ کال د انقلاب د سلمې کليزې په وياړ د پتوفي په اړه داسې وليکل:

> «پتوفي نه يوازې د ۱۸۴۸ کال شاعر و بلکې د ۱۹۴۸ کال شاعر هم دی. ځکه هغه چې د محرومو طبقو د ګټو د خونديتوب په موخه د يو دموکراتيک، ولسي او ژور انقلاب په لار کې مبارزه کوله، پر «مانۍ» د «جونګړو» د راتلونکي بريا لاره خلاصه کړه. زمونږ د ننني مبارزې موخه هم همدا ده. مونږ د ۱۸۴۸ کار ته ادامه ورکوو او پای ته يې رسوو. مونږ د ولسي دموکراسۍ له لارې د سوسياليزم په لورې مخ په وړاندې ځوو، څو د پتوفي په وينا:«ټول وکړای شي په مساوي ډول له ډک زمبيل څخه ګټه پورته کړي». که کولای شوو په دې لار کې مخې ته لاړ شو، بی له دې چې په تاريخي پيښو کې مو خپل ملي شتوالی له لاسه ورکړی وي او که کولای شوو د خپل ملت د وياړلو بچيانو هيلې او آرمانونه پوره کړو، د دې ټولو لپاره د شاندور پتوفي پوروړي يوو.»

د مجار ملت، اوس هر کال د جنوري په لومړۍ (د پتوفي د زوکړې ورځ)، د جولای په ۳۱ مه (د پتوفي د مرګ ورځ) او په ځانګړي توګه د مارچ په ۱۵ مه (د ۱۸۴۸ تاريخي انقلاب ورځ) د پتوفي په نوم او خاطرو لمانځي.

ټولو هغه ملتونو چې خپله آزادي لاس ته راوړې او يا د خپلې آزادۍ او د نورو د آزادۍ د حصولولو لپاره مبارزه کوي او پتوفي يې پيژندلی دی او پيژني يې، د پتوفي د دې ځلاندو خاطرو په لمانځنه کې، له مجار ملت سره يوځای دي.

هر څومره چې پتوفي ښه او په هر اړخيز ډول وپيژنو، د هغه ارزښت او د کار ستروالی به مونږ ته لا څرګند شي.

محمود تفضلي

کب ـ ۱۳۳۱

# شعر

ای سپېڅلی شعره،
څنګه دې سپکوي!
څنګه دې پرتم ځپي!
هغه شوده ګان چې ستا د ستروالي د درناوي ادعا کوي.

واوره، دا بی باوره کاهنان څنګه چيغې وهي
چې ته د اشرافي تالار په شان يې
په ستونزو يې سينګار کړی
يوازې د ځلانده بوټانو خاوندان در په کې قدم وهلئ شي.

آهای! چُپ شئ!
ای دروغجنو پيامبرانو، چُپ شئ!
اپلتې مه ولئ!

شعر هغه تالار نه دی
چې په کې شتمن، مفتخواره
د قړتو پړتو لپاره راټول شي
شعر ډير ستر دی
د ټولو نيکمرغو، بدمرغو په مخ
د ټولو هغو په مخ چې د ويلو هوډ يې لري
يو شان پرانيستی کور دی

شعر هغه سپیڅلی معبد دی چې ټول ورته لاره لري
ان، هغه چې ښکلي بوټان لري، یا پښې یبله رراوان وي.
اګست ـ ۱۸۴۸

# زما ترانې

اکثره په فکر کې یم
نپوهیږم د څه شي په فکر کې
د وطن پر آسمان الوزم
پر ګرده ځمکه، پر ګرده نړۍ الوزم
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د رویاګانو د ارواو، ځلانده رڼاوې دي.

شاید په رویاګانو کې د ژوندانه پر ځای
ښه به وي چې د راتلونکي لپاره ژوند وکړم
او د راتلونکي په فکر کې ووسم....
خو ولې فکر وکړم؟
خدای مهربان دی، زما په فکرکې هم دی
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د سپکې اروا، بې غمه پتنګان دي.

کله چې له ښکلې انجلۍ سره مخامخ شم
ټول فکرونه، په ژور قبر کې خښوم
خپلو سترګو ته د هغې په سترګو کې په لا ژورتیا غوپه ورکوم
هغه شان چې د آرامه سیندګي په اوبو کې ستوري غوپه خوري
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د مَیِینې اروا، سره وحشي ګلان دي.

که انجلۍ ته ګران ووسم، د ښادۍ لپاره مې څښښم
او که ګران و نه وسم، د رنځ لپاره مې څښښم
هر چیرې چې جام وي او په کې شراب
رنګارنګه ښادي زیږوي
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د سرمسته اروا، شینې زرغونې دي.

خو تر هغه چې زما په لاس کې جام وي
د ملتونو لاسونه به په ځنځیرونو کې وي
او هر څومره چې جامونه د خوشالۍ انګازې کړي
د اوسپنو انګازې به کرکجنې وي
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د غمجنې اروا، تکې تورې وریځې دي.

ولې خلک بنده ګي زغمي؟
ولې نه راپاڅیږي؟
ولې ځنځیرونه نه شلوي؟
په تمه دي چې د خدای په مهربانۍ یې د لاسونو ځنځیرونه
زنګ ووهي اونابود شي؟!
دغه مهال، چې ترانې مې وپنځول شي
زما د قهرجنې اروا، سرې لمبې دي.

لیکل شوی په ۱۸۴۶
خپور شوی په ۱۸۴۸

# زاړه پوښه اتلان

شعر مې ښه سینګارولی شم
له ښکلو وزنونو سره
له خوندورو آهنګونو سره
هغه ډول چې د تالارونو وړ وي
د ښکلو عیاشو د ملاقاتونو وړ وي.

خو فکر مې د عیاشو ځوانانو په شان نه دی
چې یوازې د عیش او نوش لپاره ژوندي دي
او د ښکلو جامو سره
د ښایسته لاسو سره
هوسجنو ملاقاتو ته وردرومي.

په داسې حال کې چې جګړه دوام لري
توره مړه ده، توپونه بی آوازه
دواړه ویده په زنګي بسترو کې
د دواړو ځای په دې جګړه کې
فکرونو نیولی.

زه هم په دې جګړه کې ګډون کوم
د خپل ټولي د سرتیرو په منځ کې
زه مې د شعرونو سره
چې زړور زلمیان دي

## جنګېږم

زاړه پوشه
خو زړور سرتيري
چې په زړورتيا او پياوړتيا بريد کوي
او هغه څه چې د يو سرتيري وياړ دی
زړورتيا ده
نه د سربازۍ جامې.

راته هيڅ ارزښت نلري
چې په دې پوه شم چې شعرونه مې له ما وروسته پاتی کيږي
که شعرونه مې په جګړه کې قرباني شي،
ډير به ښه شي
بايد همداسې وشي
پريږده چې مړه شي!

ای زما د شعرونو ديوانه
ته به پاک پاتی شی
ته به هغه هديره شی
چې په کې به مې شهيد اندونه ويده شي
هغه اتلان چې د آزادۍ لپاره قرباني شوي.

اپريل ـ ۱۸۴۷

# جګړه مې په خوب ولیده

ببګا مې جګړه په خوب ولیده
**مجاریان** یې جګړې ته رابلل
او د بلنې د نښې په پار یې له پخواني دود سره سم
لڼنده توره په ټول هیواد کې ګرځوله.

ان هغوې چې په رګونو کې یوه څاڅکې وینه وه
د دې لڼندې تورې په لیدو یې ټکان وخوړ
هیڅوک د پیسو او مقام لپاره نه جنګیدل
ټول د آزادۍ د ځلانده تاج لپاره جنګیدل.

زمونږ د واده ورځ وه
زما د واده ورځ، ستا د واده ورځ، ای میینې
د دې لپاره چې ځان د وطن په لار کې قربان کړم
زه ان د واده له لمړنۍ شپې هم تیریدم.

ای زما محبوبې
سخته نه ده د واده په ورځ د مرګ په لورې تلل؟....
که برخلیک داسې وغواړي
په رښتیا به همداسې وکړم
څنګه چې مې په خوب کې ولیدل.....

اګست یا سپتمبر ـ ۱۸۴۵

# يادګاري

يادګاري!
ته د ډوبې شوې بېړۍ يوه ټوټه يې
چې د باد او څپو لالهاندي دې
د سيند ساحل ته غورځوي.

مارچ ـ ۱۸۴۶

# ای تقدیره!.....

ای تقدیره! فضا را ته پر مخ پرانیزه
چې د بشري ټولنې لپاره کار وکړم
چې دا سپیڅلی اور چې تودوي مې
بی ځایه تباه نشي.

په زړه کې یوه آسماني لمبه لرم
چې جوشوي هر څاڅکی وینه د رګونو مې
د زړه هره دربا مې دعا کوي
د نړۍ د نیکمرغۍ په پار.

غواړم چې وکړای شم یوه ورځ خپله هیله ووایم
نه په تشو خبرو
په خپل کار سره
که څه هم د کار ډالۍ مې
یو نوی **جلجتا** وي
یو نوی صلیب وي. *

په دې بی حاصله ژوند کې
په دې بابیزه ژوند کې
د انسانانو د هوساینې لپاره مړینه
ښه ده
ښایسته ده

ډیره ښه ده
ډیره ښایسته ده.

ای تقدیره! راته ووایه! راته ووایه!
چې زه به داسې یو مرګ ولرم
زه به داسې یو سپیڅلی مرګ ولرم
که داسې مرګ ولرم
په خپل لاس به جوړ هغه صلیب کړم
چې ورباندې مصلوب شم.

اپریل ـ ۱۸۴۶

* جلجتا، هغه سیمه ده چې عیسی مسیح یې هلته مصلوب کړ.

# يو فکر مې زوروي

يو فکر مې زوروي:
د کټ پر بالښت مړينه
د هغو ګلانو په شان
چې پټ چينجي يې خوري
ورو ورو مړاوېدنه!
په تشه، خالي خونه کې
د يوې شمعې په شان
ورو ورو ترې تم کيدنه!

خدايه! دا شان مرګ رانصيب نکړې
زه دا شان مرګ نه غواړم
ښايي هغه ونه ووسم چې تندر يې راماتوي
او
توپان يې ريښې کاږي
ښايي هغه ډبره ووسم
چې تندر - چې آسمان او ځمکه لړزوي -
ګوزار مې کړي
د دربېلو ژوروالي ته
غوزار مې کړي.....

کله چې اسير ملتونه
د اسارت له يوغه ستومانه

په قهرجنو څېرو
د سرو بیرغونو لاندې
چې ورباندې"د نړۍ د آزادۍ" مقدس شعار لیکل شوی
راپاڅیږي
او له ختیځه تر لوېدیځه
د دې مقدسو کلیمو ازانګې پورته کوي
او له ظلم سره جګړې ته راجګیږي
زه غواړم هلته مړ شم
د جګړې په ډګر کې
او هلته مې د زړه تنکۍ وینه توییه شي.

کله چې وروستۍ کوکاره مې په رضایت آمیزه توګه
انګازه کوي
د پولاد زوږ
د سورنا آواز او د توپ درزا
هغه ووژني
او پر جسد مې
ښېدلي آسونه
د ستونزمنې بریا په لور وځغلي
او ما لغتماله شاته پریږدي....
ښایي د شهیدانو د تدفین د سترې ورځې لپاره
شنلي هډوکي مې له هغه ځایه راغونډ کړي
او له آرامې ترانې
او د ویر له پرتمینې موسیقۍ سره

له غمځپلو رپانده بیرغونو سره
ټول هغه اتلان چې ستا په لاره کې مړه شوي
ای د نړۍ مقدسې آزادۍ!
یو ګډ قبر ته وسپاري.

دسمبر ـ ۱۸۴۶

# تا ته پسرلی ګران دی!

تا ته پسرلی ګران دی
ما ته منی
ستا ژوند، پسرلی
زما ژوند، منی.

ستا سرې لیمې
د پسرلي سور ګل
زما ستومانه ستر ګې
د خزان بیرنګه لمر.

که زه یو ګام بل پورته کړم
یو ګام مخې ته
د ژمي په کنګل شوي درشل کې به ووسم.

که ته یو ګام مخې ته راغلی وی
او زه یو ګام شاته تللی وی
له یو بل سره به په تود او خوندور دوبي کې
یوځای شوی وی.

اکتبر - ۱۸۴۶



د شاندور پتوفي د زوکړې کور



پتوفي په ځوانۍ کې



د پتوفي مور



د پتوفي پلار



پتوفي د ۱۸۴۸ کال د مارچ په ۱۵ مه خپل «ملي سرود» خلکو ته وايي.



د پتوفي میرمن



شاندور پتوفي (۱۸۲۳- ۱۸۴۹)

# ماڼۍ او جونګړه

ای ماڼۍ! ولې دومره پر ځان نازیږئ؟
د ارباب له ځلاندتیا دې مغروره یې؟
هغه په الماسو ځان پټ کړی
چې د خپل زړه بربنډتیا پټه کړي
هغه مری او د ورېښمو فیتې ترې وشکوه
چې نوکرانو ورته ځړولي
بیا به وګوری چې څومره حقیر راځرګندیږي
ان د خدای د مخلوق بڼه به هم ونلري.

دا ګنجونه له کومه لوټ شوي
چې هغه سپک انسان درنوي:
کله چې ټپوس مارغه نیسي
ځیګر یې څیروي، وینه یې څښي
کله چې ټپوس میلمستیا جوړوي
د ځنګل په مینځ کې
په یوی کوچنۍ ځاله کې
د مارغه بچیان زاري کوي
خپله مور لټوي
هغه مور چې نوره به راستنه نشي.

ای مغرورې ماڼۍ!
د لوټل شوې خزانې پراختیا دې ټولو ته ښکاره کړه!

لا وځليږه!
خو ځلاندتيا به دې ډېر دوام ونکړي
ځکه وخت دې پای ته رسيدلی:
هيله من يم ډېر ژر
ويجاړ ديوالونه دې وګورم
چې د ړنګيدو پر مهال
ستا د پست فطرته هستوګنو هډونه
ماتوي.

ای حقيرې جونګړې!
چې د دې لوړې ماڼۍ تر سيورې لاندې ځان پټوئ
ولې ځان د څانګو لاندې پټوئ؟
کوچنيتوب دې پټوئ؟!
ور دې راپرانيزه ای تورتمې جونګړې!
زه سينګار شوې څيره نه غواړم
زه ښکلي زړونه غواړم....
او روښانه زړونه
په تورتمو جونګړو کې پيدا کيږي.
دا درشل چې ورنه تيريږم، سپيڅلی دی
د فقر د جونګړو درشلونه سپيڅلي دي
دلته نوميالي زيږول کيږي
دلته آسمان، ژغورونکي سپاري *
هغه ټولو چې فدا کړي ځانونه د انسان لپاره
له جونګړو راوتلي

هغه چې په مانۍ کې میشته دي
بی له کرکې او بیوزلی، نور څه یې خلکو ته  نه رسیږي
ای زړه سپینو بیوزلو! پروا یې مه کوئ
له ښه ورځو به برخمن شئ
که تیر مو ښه نه و
اوس مو ښه نه دی
بی پایه راتلونکی ستاسو دی
د دې تنګو، سپیڅلو جونګړو په وړاندې
د دې ټیټ چت تر لاندې
په ګونډو کیږم
ای بیوزله ولسه
ستاینه مو له ما سره شریکه کړئ
چې زه مو ستایم!

جنوری — ۱۸۴۷

* د مسیح او نورو پیغمبرانو مبارزې ته اشاره ده.

# سپیان او لیوان

**د سپو آواز:**

د خړ آسمان لاندې
قهرځپلی توپان شنېږي
واوره او باران، د ژمي غبرګولي بچیان
بې له څنډه وریږي.

موږ یې څه پروا لرو؟
د پخلنځي څنډه خوند کوي
مهربانه ارباب مو
دغه ځای موږ ته خوشی کړی.

د ژوندانه څه غم نلرو
کله چې ارباب مو په خېټه موړ شي
همیشه ترې خوراکي شیان پاتې کیږي
چې مونږ ته به یې د خوړو لپاره راواچوي.

قمچینه؟....
سمه ده چې کله آواز کوي
او دا آواز بې له شکه چې دردونکی دی
خو د سپي هډونه زر جوړیږي.

کله چې مو د ارباب قهر سوړ شي
بیا موږ خپل ځان ته راغواړي
او موږ هم په ډیری لیوالتیا وردرومو
چې بخښوونکی پښی یې وښتو.

**د لیوانو آواز:**

د خړ آسمان لاندې
قهرځپلی توپان شنیږي
واوره او باران، د ژمي غبرګولي بچیان
بی له ځنډه وریږي.

دلته چې موږ اوسیږو
بیدیا ده او نیستي
ان یو کوچنی ځنګل هم نشته
چې موږ ورته پناه ویسو.

له بهره یخني
له دننه ولږه
دوه پیاوړي دښمنان
چې په بیرحمۍ پر موږ برید کوي.

دا هم دریم دښمن:
ډکه؛ چمتو وسله ...

پر سپينې واورې
سره وينه مو تويېږي.

ساړه مو کيږي، وږي يوو
دواړه خواوې مو په مردکيو سوري سوري
ونړه مو بيوزلي
خو "آزاد" يوو.

جنوری ـ ۱۸۴۷

# د نولسمې پیړۍ شاعران!

پریږده چې څوک په شوده توب
نور د تارونو ترانه و نه غږوي!
او هغه چې چنګ په لاس کې اخلي
له دې وروسته یو پرتمین کار وپنځوي
که ته د خپلې ښادۍ او غمونو
له نغمې غږولو پرته بل کار نشی کولئ
نړۍ له تا کومه تمه نلري
دا سپیڅلی چنګ پریږده!

موږ روان یوو په صحرا کې اوس
هغه شان چې په لرغوني زمانه کې روان و **موسی**
د خپل قام مخامخ
پر هغه لار درومیدو
چې ورته ښکاره کړه خدای د اور په ستنه
زموږ په زمانه کې ښکاره کوي شاعرانو ته خدای
د اور ستنه
د **کنعان** د ټاټوبي په لور
د خلکو لارښوونه.

نو ای شاعره،
د لمبو او سیندونو له منځه
مخ په وړاندې له ولسونو سره!

لعین دې وي هغه چې پریږدي
د ولس بیرغ راولیږي!

کله چې ولسونه خوله تویوي،
رنځ ګالي
مبارزه کوي
لعین دې وي هغه لټ، ډارن
چې وروسته پاتې کیږي!
او په سیورې کې د ځان لپاره د هوساینې ځی لټوي
ځیګی لټوي.

دوې ټول دروغجن پیامبران دي
په ټګمارۍ خلکو ته وایي:
موعود ټاټوبي ته رسیدلي یوو
نور باید ودریږو
دا شرمناکه دروغ، لویه دوکه ماري ده
چې دروغجنه ځیره یې بربنډوي
د هغو میلیونونو لمر وهونکو ناامیده وګړو ژوندون
چې کړیږي
له تندې
کړیږي
له ولږې.

کله چې ټول انسانان یو شان
د پریمانۍ له زمبیله خپله ونډه واخلي
کله چې بالاخره ټول وکړای شي
یو شان د حق د میز تر څنګ کښیني
کله چې د پوهې راوړنکې رڼاوې
د هر کور پر پنجرې وړانګې وشیندي
هغه وخت کولای شوو، ووایو:
ودریږئ!
موعود ټاټوبي راورسید.

خو تر هغه؟
تر هغه، بې له څنډه ستونزمنې مبارزې ته مو دوام ورکوو
که ان د ټولو هلوځلو لپاره مو
ژوند هیڅ څه را ډالۍ نکړي
خو مرګ به په نازونکي ښکلولو
زموږ سترګې په آرامۍ بندې کړي
او له ګلونو په اوبدل شوي پړي
د وریښمو په بالښت
مونږ به د خاورې غیږې ته ورخوشې کړي.*

جنوري ـ ۱۸۴۷

* دوه وروستۍ کرښې د مسیحیانو د تدفین مراسمو ته اشاره کوي.

# د ولس په نوم

بیره وکړئ! هغه څه چې ولس غواړي، ورى کړئ!
نه پوهيږئ چې څومره وحشتناکه ده کله چې ولس پاڅون کوي؟
کله چې نور غوښتنه نکوي، په زور يې اخلي؟
د **ګئورګ دوژا*** نوم مو نه دې اوريدلئ؟
تاسو هغه ژوندى پر سيځونکى څوکى وسيزه
خو اور د هغه اروا ونه سيزله
ځکه چې په خپله د اور يوه لمبه وه
ډډه وکړئ له هغه اوره چې شوني ده بيا له دې لمبې راپورته شي.

مخکې له دې، خلکو له ډودۍ پرته څه نه غوښتل
ځکه لا يې حيواني ژوند درلود
هغوې حيوانان وو، خو اوس انسانان دي
حق بايد انسانانو ته ورکړاى شي.
حق يې ورکړئ! د ولس انساني حق ورکړئ!
له حقه محروميت، د خداى پر مخلوق يو وحشتناکه داغ دى
او څوک چې دا داغ پردي له خدايي شکنجې به بچ پاتې نشي.

د ځان لپاره دومره امتياز، ولې خپل حق ګڼئ؟
حق بى له تاسو، ولې د بل چا لپاره مانا نلري؟
پلرونو مو دا ټاټوبى په ميراث کې درکړ
خو دا د ولسونو خوله ده چې په کې بهيږي
تاسو ته څه ګټه لري چې ووايى: دلته کانونه دي....

لاسونه په کار دي چې دا ځمکه وکيندي چې طلا ترې راوځي
آيا دا متې ارزښت نلري؟
آيا دا لاسونه ارزښت نلري؟

تاسو چې په کبرجنې اعلاموئ
چې دا وطن ستاسو دی
دا حقونه ستاسو دي
څه به وکړئ يوازې
هغه وخت چې دښمن راشي
پر تاسو تيری وکړي؟
پر هيواد تيری وکړي؟

وبخښئ! وبخښئ!
زه هم څه پوښتنې کوم!!!
کم پاتې و چې په **ګيور**** کې ستاسو اتلوالي هيره کړم!!!
څه وخت به د وياړنې خلي جوړ کړئ
د هغو باتورو د پښو په پار چې له دغه ډګره وتښتيدل!!!....

د بشريت په وياړلي نوم!
د ولس حق وپيژنئ،
حق يې ورکړئ،
که دا د وطن د دفاع استوار رکن نه وي،
تاسو به په خطر کې ووسئ

د مشروطیت ګلونه ټول ستاسو په برخه شوي
ولس ته له اغزیو پرته بل څه نه دي رسیدلي
د وطن په سپيځلي نوم،
د ګل څو پاڼې موږ ته هم راکړئ
له اغزیو، یو څه ځان ته هم بیل کړئ!

بیړه وکړئ! هغه څه چې ولس غواړي، ورى کړئ!
نه پوهیږئ چې څومره وحشتناکه ده کله چې ولس پاڅون کوي؟
کله چې نور غوښتنه نکوي، په زور یې اخلي؟
د **ګئورګ دوژا** نوم مو نه دې اوریدلئ؟
تاسو هغه ژوندی ژوندی پر سيځونکی څوکی وسیزه
خو اور د هغه اروا ونه سیزله
ځکه چې په خپله د اور یوه لمبه وه
ډېره وکړئ له هغه اوره چې شوني ده بیا له دې لمبې راپورته شي.
مارچ ـ ۱۸۴۷

*ګئورګ دوژا، مجاري دهقان و چې په ۱۵۱۴ کال کې د نورو دهقانانو په مرسته یې بلوا وکړه. هغه یې د شکنجې لپاره په یوه اوسپنیزه کټګي چې په اور سور شوی و، کښینو چې خپل نور ملګري افشاء کړي. خو هغه تر مرګ پورې یوه خبره هم ونکړه او پر دغه کټګي وریت او مړ شو.
** ګیور، د هغه سیمې نوم دی چیرې چې ناپلئون له مجاري خانانو او اربابانو سره جګړه وکړه. هغه اربابان او خانان چې له ناپلئون سره جنګیدل ټول له جګړې وتښتیدل او بریا د ناپلئون په برخه شوه.

# ولس

په یوه لاس قلبه
په بل لاس توره
دا شان بیوزله ولس
تر وروستۍ سلګۍ پورې
خوله تویوي،
وینه ورکوي.

د ځمکې سخاوتمنده مور
څومره چې خلک د خوراک پوښاک لپاره اړتیا لري
په خپله یې ورکوي
نو بیا ولې دومره خوله تویوي؟؟

کله چې دښمن یرغل کوي
په رښتیا د وطن د دفاع په پار
دومره توره وهي؟
دومره وینه ورکوي؟
بی له حقه خو وطن نشته
او ولس ته خو حق نه ورکوي.

جولای ـ اګست ـ ۱۸۴۷

# زغم

ای زغمه!
ای د ګڼو او خرو ویاړه،
تا غوره کړم؟

ـ ورک شه له مخې مې!ـ

که د یو بی پناه سوالګر په شان
پر ټوله ځمکه ګرځئ او پناه غواړئ
هر چیرې چې غواړئ دیره شه
پرته له ما نه

زړه مې
دې
نه مني!

که ټوله نړۍ دې فتحه په بریا کړه
بیا به هم یوه ډبره پیدا کړی
چې نوم دې پرې کابلی نشی
دغه ډبره
به زما زړه وي.

ای زغمه!
ای خوشې بوسه

هغوی چې ماړه شوي ستا له دانو
په دې نړۍ دې پلوري پر شوده ګانو
د غنمو په نامه.

ای زغمه!
ته هغه تشه کاسه یې
چې پیشو ټوله څټلې
او آشپز خلاصه خوله
تر څنګه دې اوس سر خوځوي.

ای زغمه!
نه پوهیږم ته څه شئ یې؟
درنه بیزاره یم ډیر
درنه کرکه لرم ډیر
هر ځای چې ته پیلیږئ
نیکمرغي پای ته رسیږي.

څومره به ځمکه نیکمرغه وی
که ته یې پر شا سپور نه وی
تر هغه چې ورباندې سپور یې
موږ به تل بینوا یوو.

ورکه شه!
ای د ژوند بلا

دوزخ ته لاړه شه!
چې هلته دې هماغه عفریت نابود کړي
چې ستا کرکجن وربوز یې پر دې ښکلې ځمکې کېښود.

اپریل ـ ۱۸۴۷

# باټو کان

دا لیونی وزمه غوغا تر کومه؟
تر کومه د وطن په نامه غورېدونه؟
هغه چې تل د وطن نوم پر ژبه لري
هیڅکله به وطن په زړه کې ونلري.
ستاسو ژبه د بوډاګانو په څیر قړتنه
ټول کال ولئ قړتې پړتې
خو ولس لا هملته نه دی چې وو؟
لا هغه ټول فسادونه نشته چې وو؟

د دې پر ځای چې یوازې په تشو نشو خبرو
ارزښتمن وخت مو تباه کوئ
عمل وکړئ! عمل!
د خدای لمر
د نړۍ لمر
د انتظار سترګه تاسو ته نیولی
خو څه بیهوده انتظار؟!!
لاس مو د عمل لپاره اوږد کړئ
جیبونه مو د قربانۍ لپاره پرانیزئ
دا وطن وپالئ
چې یو عمر یې تاسو پاللي یاست.

فداکاري او عمل هغه هنداري دي

چې حقيقي وطنپال راځرګندوي
خو تاسو
ډارن ياست
ځانپال ياست
ډارن د عمل پر مهال
ځانپال د قربانۍ پر مهال.

باوري يم چې په پسرلي کې د زړو ونو په شان
زاړه ملتونه بيا راټوانيږي
خو تاسو پر ونو هغه چينجيان ياست
چې تازه پاڼې نه زرغونوئ
ان زړې پاڼې هم خورئ.

آه، څه ړوندتيا!
عوامفريبي هغوې پر خپل ډال کښينولي *
او ړانده دوکه خوړونکي
هغوې د ژغورونکو په شان په غېږ کې نيسي
خو څه عجبه ژغورونکي؟!!
دوې وطن پلورونکي دي
او مور د همدې ډوزمارانو په لاس نابوديږو
دښمن د دوې له څېرو پوهيږي چې مور ډاريږو
ځکه چې ډارن سپيان تل غپيږي.

زه د هغوی په ډله کې نه يم

چې د دوې شا ته په غوغا روانيږي
که يوه ورځ ورشم خوا ته يې
د بل څه لپاره نه ورځم
ورځم چې د دې دروغجنو مشرانو
د بريا څرخ مات کړم
او د قهر له قمچينې سره
د دوې په کرکجنې څيرې د ځندۍ نښې وکاږم.

اګست — ۱۸۴۷

* له پخوانې دود سره يې اتلان په ډال کښېنول بيا يې پر اوږو اوچتول.

# خزاني ترانه

د منې باد، غمژن، له ونو سره زمزمه کوي
زمزمه يې ورو، اوريدلی يې نشوو
نه پوهېږو د ونو په غوږ کې څه وايي؟
ونې د باد په زمزمه
په فکر کې ډوبيږي
سرونه يې خوځيږي.

ډير وخت کيږي چې غزيدلی په آرامه بړستن يم
شپه لا نه ده رارسيدلې
کوچنی سر يې راته ايښی پر سينه
په درانه، خواږه خوب تللی
زما مينه ناکه ميرمن.

په يوه لاس کې مې د خوږې بيده نازنينې ميرمنې
لړزانه سينه
په بل لاس کې مې د آزادۍ د جنګونو د تاريخ
سپېڅلی کتاب
چې هره کليمه يې د لکۍ داره ستوري په شان
زما د اروا په لوړ آسمان کې ځغلي...
کوچنی سر يې راته ايښی پر سينه
په درانه، خواږه خوب تللی
زما مينه ناکه ميرمن.

ای اسیر ملته
طلا دې دوکه کوي
قمچینه دې څپې
چې د ستمګرو لپاره وجنګیږئ
آزادي موسکی شوی
ټول پلویان یې جګړې ته روان دي
ټول ورته مني په خوښه ټپونه، مرګونه
لکه د ښکلې انجلۍ نه د یو ګل د منلو په شان
کوچنی سر یې راته ایښی پر سینه
په درانه، خواږه خوب تللی
زما مینه ناکه میرمن.

ای سپیځلی آزادۍ!
څه قیمتي ځانونه دې په لار کې بلهاري شول
څه ګټه یې لرله!
که تر ننه یې ګټه نه وه،
راتلونکي یې ګټور دی
په نهایي جګړه کې بریا ستا ده
د وژل شوو غچ ـ خونړی غچ ـ
به واخلئ....
کوچنی سر یې راته ایښی پر سینه
په درانه، خواږه خوب تللی
زما مینه ناکه میرمن.

خونړی لرلید مې د سترګو په وړاندې دی:
د راتلونکي روزګار رویا
چې د آزادۍ دښمنان
د خپلو وینو په دریاب کې ډوبیږي...
د زړه ضربان مې د تندر په شان غریږي
بریښناوې مې په مغزو کې ځلیږي
کوچنی سر یې راته ایښی پر سینه
په درانه، خواږه خوب تللی
زما مینه ناکه میرمن.

سپتمبر – ۱۸۴۷

# د سپمتبر پای *

رنګارنګه ګلونه لا د پنجرې يخ ته غړيدلي
لا د پنجرې مخامخ ونه شنه ده
خو ليرې ژمنۍ دنيا ليدل کيږي
پر غرونو واوره وريدلې
زما په ځوان زړګي کې لا دوبنۍ توده لمبه ده
لا پسرلني ګلونه په کې غړيږي
ويښته مې لږ لږ سپينيږي
پر سر مې راتيروي ژمی لاسونه.

ګل مړاوې کيږي، ژوند تيريږي
کښينه، تر څنګ مې کښينه ميرمنې
اوس چې دې ايښې راته سر پر سينه
پر قبر به مې واچوی سبا ټول بدن؟؟
راته ووايه!
آه، راته ووايه!
که له تا دمخه مړ شم
په اوښلنو سترګو به راکش کړی پر جسد مې کفن؟
يا به بيا جذبه د ځوانۍ په مينه کې
بدل به مې نوم د بل لپاره کړی؟

که د کونډتوب تور څادر دې ليرې غورځوئ يوه ورځ
زما د قبر پر توغ يې راوځوړوه

چې د ویر جنله مې شي
نیمه شپه به دنیا ته راشم له قبره
تور ځادر به له ځان سره ویسم
وربانديې وچې به کړم هغه اوښکې
چې تویيوم يې د تا لپاره
ستا د بی وفايۍ لپاره
چې زما وفا دې دومره ژر هیره کړه
ورسره به تړم د زړه ټپونه
هغه زړه چې هلته هم ورته ګرانه یې
هغه زړه چې هماغه وخت هم ورته ګرانه یې.

سپتمبر ـ ۱۸۴۷

* د سپتمبر پای، د مني لومړی ورځ.

# د سوالګر قبر

د يو وحشي حيوان په شان چې خپل مرګ احساسوي
زوړ سوالګر د دښتې منځ ته تللی
او هر څه چې ورته پاتې له ژونده دي
هلته يې د دښتې منځ کې پر ځمکه ايښي دي.

شوکمارو ناڅاپي د هغه جسد ومونډ
قبر يې ورته جوړ کړ
د سوالګرۍ کڅوړه يې ورته وځړوله له لکړې
چې د هغه د يوازيني قبر نشان وي. *

هلته په دښته کې چې ونه نه ښکاري
دا قبر له ورايه له حقيرې نښې سره پر مځکه ښکاري
ای طبيعته! ای مورې، ای د بيوزلو مېره مورې
تا پټ کړ ورته قبر په وحشي ګلانو
په وحشي بوټو

برخليک همداسې دی:
تر څو چې ژوندی و
راځوړندې وی ترې شليدلې زړې ټوټې
اوس يې قبر داسې سينګاروي
چې ښکلا يې د ختيځو غاليو ښايست شرموي.

خو هغه ته به څه فرق ولري؟
ښه شو چې بالاخره آرام شو
څوک فکر کولای شي چې د ژوندانه لاره يې
له څومره کړاونو تيره شوې
له څومره خطرونو تيره شوې.

هغه لاس
چې دا وچه خنډينه لکړه يې
په بوډاتوب کې نيوله
هغه لاس
د ځلميتوب په پياوړتيا کې
د جګړو ځلانده توره ټينګه نيوله.

د شتمنو د حق او مالکيت لپاره يې
په خطرناکو جګړو کې توره وهله
هر چيرې لالهانده و
چمتو د قربانۍ لپاره
خو هماغه شتمنو وسپارو ولړې ته
چې مړ شي.

ښه شو چې ومړ،
ټول شيان يې له ياده تللي اوس
ټوله بيوزلۍ يې له ياده تللی اوس
د جګړې شورماشور يې له ياده تللی اوس

ګردچاپيره نړۍ کې يې چوپه چوپتيا ده
څوك يې تر خاورې لاندې خوب نه خرابوي اوس.

کله ناکله يوازې کوچنۍ مرغۍ
د هغه د قبر پر وچې لکړې کښيني او چغيږي
خو د قبر پر لکړې ناسته مرغۍ به څه ووايي؟
د قبر پر هغه لکړې چې مخکې له دې د سوالګرۍ امسا وه؟!

اکتبر ـ ۱۸۴۷

* د مسيحيانو پر قبرونو يو لرګی، عموماً د صليب په توګه ږدي.

# ملي سرود

پاڅه! ای **مجاره،** وطن تا غواړي
وخت يې رارسيدلی
همدا اوس
يا
هيڅکله!

اسارت که آزادي؟
داه ده خبره، يو بايد انتخاب کړو
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هيڅکله
اسارت ونه منو .

تر اوسه اسيران يوو
پلرونه مو انديښمن دي
هغوې آزاد ژوند وکړ، مړه شول
په اسير ټاټوبي کې ويده کيدای نشي
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هيڅکله
اسارت ونه منو.

رذيل دی هغه
ذليل دی هغه

هغه چې ورته اړتیا وي خو د مرګ زړورتیا ونلري
هغه چې خپل حقیر ژوند
د خپل هیواد له شرفه، ګران ولري
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هیڅکله
اسارت و نه منو.

توره ځلانده له ځنځیره
لاسونه لا ښایسته کوي
خو زمونږ په لاسونو کې لا ځنځیرونه دي
ای لرغونو تورو راشئ
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هیڅکله
اسارت و نه منو.

د **مجار** نوم بیا ځلانیږي
ویاړ یې بیا تر لاسه کیږي
د بی شرمی هغه ترږمه له منځه وړو
چې له پیړیو یې ککړ کړی و دا سپیڅلی نوم
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هیڅکله
اسارت و نه منو.

چیرې چې جوړه کړی قبرونو مو پر مځکه غونډۍ

هلته مو لمسیان پر خاوره ولیږي
له ستاینیزه درودنو سره
یوځای کوي نومونه مو له یو بل سره
د مجار په خدای قسم خورو
قسم خورو چې نور هیڅکله
اسارت و نه منو.

د مارچ ۱۳ مه ـ ۱۸۴۸

د مارچ په ۱۵ مه ( د ۱۸۴۸ انقلاب د پیل په ورځ) خپور شوی

# د ۱۸۴۸ د مارچ پنځلسمه

ای د مجار د تاریخ الاهه
چې اوسپنیز قلم دې ډیره موده ویده و
د دې پرتمینې ورځ نوم
د ابدیت پر ډبره
ځلانده ولیکه.

نه مو نیکونو
نه مو پلرونو
په یوه پیړۍ دوران کې
داسې یو کار وکړ
چې مونږ په څلرویشتو ساعتونو کې وکړ!

ای زمونږ د اندونو آزادو وزرو
خلاصې شئ، خلاصې شئ!
نور اسیر نه یاست
والوزئ
هر چیرې چې غواړئ والوزئ.

د دې هیواد ګوټ ګوټ ته لاړ شئ
چې د اسارت پر مهال
د ځنځیر په سیزونکو کړیو کې
ډیر انسانان وربانديې ژړیدلي دي.

مطبوعات آزاد دي!
له دې وروسته ستا ډار راسره نشته
ای ملته!
ستا په زړه کې تپانده وینه بهیږي
نیمځانه جسد دې راژوندی کیږي.

ای د پښت*ځوانه ولسه
نوم دې په تاریخونوکې ثبتیږي
ځکه ته په وروستیو شیبو کې
د هیواد ژغورن شوی.

کله چې هلته لوړ
جرګې له خپل چټل عادت سره سم
هسې بی ځایه اپلتې ویشتلې
دلته د تقدیر ګړی راورسیده.

ای زلمیانو!
هڅاند شئ!
زړور شئ!
مونږ هغه قفلونه ماتوو
چې ملعونو لاسونو مطبوعاتو ته اچولي
دې سپیڅلې شتمنۍ ته یې اچولي.

که دښمن لوټماران راولیږي
مونږ یې انتظار کوو!
څه به وکړي؟
د غشي څوکه ښه ده په زړونو کې
نه پر لاسونو تړلي ځنځیرونه!

په شوق
په قهر
به برید کوو
مخ په وړاندې د آزادۍ په نوم!
ای د **پشت** باتورو زلمیانو!

څوک زړور و چې د نورو مخامخ لاړ شي؟
مونږ زرګونه تنه وو
چې په سترګو کې مو د قهر لمبه ځلیده
په څیرو کې مو د قهر لمبه ځلیده.

د تندر د غراري په شان مو فریاد و
د زرهاوو انسانانو آواز و
چې لاره یې ومونده مطبوعاتو ته
او د اسارت قلفونه یې مات کړل.

خو دا بسنه نه کوي!
ټول د **بودا** په لور!

هلته په زندان کې يو ليکوال**
د ولس په پار د قلم وهنې، کړاو ګالي.

د ګړندي عقابانو د تيزوالي په شان
مونږ پر زاړه **بودا** بريد وکړ
د ګامونو لاندې مو ماته کړه
د هغه زوړ غره ملا.

په بريا مو آزاد کړ هغه اسير ليکوال
څه يو ستر جشن و!
د ماتياش له جشنه*** تر ننه
زاړه غره داسې يو څه ليدلي نه وو

ای د مجار د تاريخ الاهه
دا ستر کارونه پر خپلو ډبرو وکاږه
چې د راتلونکي نسلونو لپاره
تلپاتې بيلګه شي.

ای زما زړګيه، که غرور پر تا وريږي
ته حق لرې له هغه وياړی
ځکه زه وم
چې د اتلو ځوانانو
زړورو زلميانو
په سر کې روان وم

د داسې سترې ورځ رهبریت
زما د عمر لویه ډالۍ ده!
ای ناپلئوني ویاړه
زما ویاړ ستا پر ویاړ بهتره دی!

د مارچ ۱۶ مه ـ ۱۸۴۸

* **پشت**، Pest، او **بودا** دو ښارونه، د یو بل تر څنګ پراته وو چې له یو بل سره یې اوسنی «بودا پست» ښار جوړ کړی. د ۱۸۴۸کال د مارچ په ۱۵ مه انقلاب د «پشت» له سیمې پیل شو.

** انقلابي شاعر او لیکوال «میهای نانچیچ» ته اشاره ده چې په بودا ښار کې بندي و.

*** ماتیاش د مجارستان پاچا و چې له ۱۴۵۹ تر ۱۴۹۰ د لومړي ماتیاش په نامه یې پاچاهي وکړه. عادل او ولس دوسته پاچا و. له بدلو جامو سره د خلکو تر منځ تلو چې د هغوې له احواله ځان خبر کړي.

ماتیاش د خلکو د یو عمومي پاڅون په ترځ کې د خلکو لخوا پاچاهۍ ته ورسید. خلك چې له پخواني پاچا ناخوښه وو د کنګل شوي دانوب (په اروپا کې یو سیند) پر مخ راټول شول او هغه یې پاچاهۍ ته ورساوه او د «بودا » په ماڼۍ کې پر تخت کښینوه.

# سیند څپاند شوی

سیند څپاند شوی
د ولسونو سیند
ډارونکی ځواك یې
لکه څپانده څپو مست
اسمان ډاروي
ځمکه ډاروي

دا نڅا ګورئ؟
دا موسیقي اورئ؟
ای بی خبروو
تاسو اوس زده کوئ
چې خلك څنګه راپاڅیږي.

سیند څپانده
غریږي
څپانده بیړۍ
په وحشتناکه ژورو کې ډوبیږي
توغونه، بادبانونه
مات مات،
څیرې څیرې
راځوړند

پر خنډونو بهاند شه!
بهاند شه!
توره ژورتیا دې راڅرګنده کړه
قهرجن ځګونه دې
تر وریځو پورې وشینده
د ابدیت د نښې په توګه
ورسره پر آسمانونو ولیکه:
که څه هم بېړۍ پورته
څپې لاندې
خو د بېړۍ برخلیك د څپو په لاس کې دی.

د ۲۷ تر ۳۰ مارچ ـ ۱۸۴۸

# زما مینه، زما توره

کوتره ناسته د کور پر بلی
ستوري په آسمان کې
په غیږ کې مې ګرانه میرمن
په خوند خوند یې خوځوم د مټو په زانګو کې
هغه شان چې پرخه خوځیږي د ونې په رپانده پاڼه.

اوس چې په غیږ کې مې پرته ده
نو ولې ترې مچو وانخلم؟
خوله مې د ښکلولو لپاره
نه ناتوانه ده
نه خسیسه ده
مونږ ډیر قهرتیږو
تل نیم پاتی کیږو
ځکه چې نیمایي خبرې مو
د ښکلولو په منځ کې ورکیږي.

خوشالي مو ستره
خوندونه مو بی پایه
نیکمرغي مو
د میینې مرغلری په شان
ځلانده
خو توره مې

خوشاله نه ده
ګنډلي قهرجنې سترګې
پر مونږ له ديواله

ای زړې تورې
ولې داسې راته ګورئ؟
ولې داسې قهرجنه يې؟
ای زړې نادانې
حسادت دې ځوروي، شايد!
ای ملګرې، داسی مه کوه
ته يې وړ نه يې
که نره يې
د ښځمنو کار مه کوه.

ته ولې حسادت کوی
ته مې ميرمن ښه پيژنی
اروا دې بايد ورته هم ښه پيژندلی وي
ـ څه عجيبه اروا لري ـ
چې خدای
خلق کړي نه دي د هغې په شان
دومره څوک.

که هيواد زما متهو ته اړتيا ولري
ميرمن به مې په خپله وتړي تا

زما له ملا

تړي دې زما له ملا
او د خدای پامانۍ پر مهال به را ته ووايي:
له يو بل سره يوځای لاړ شئ
له يو بل سره وفادار پاتې شئ.

اپریل ـ ۱۸۴۸

# ملت ته

انګازې کړئ، ای د خطر جرسونو!
زه په خپلو لاسو طناب مو راکاږم
رپېږم
ـ نه له ډاره ـ
زړه مې درد دربوي
زړه مې قهر دربوي.

دردا!
وینم چې نوی توپان
ویجاړ هیواد مې ګوابنې
قهرجن
قهرجن
ځکه مونږ وزګار ودریدلي یوو
خوب راته درانه کړي بانه.

یوه ورځ ملت له ځایه راوپارید
د نړۍ له آواز یې ټکان خوړلی و
بیا په بله خوا ورغبنت
او په آرامه خوب ویده شو.

راویښ شه! راویښ شه!
ای بدمرغه ملته

تا کولاې شول لومړنی کتار خپل کړئ
خو له بدمرغۍ او لټۍ
وروسته پاتی شوی
سپک پاتی شوی.

راویښ شه!
وطنه که پانځیری
هیڅکله به پانځیږی
که ویښ هم شی دومره وخت به وموومی
چې د قبر پر شناختې به دې نوم ولیکی.

وطنه راپاڅه!
راپاڅه، جبران کړه په یوه ستره ګړۍ کې
د یوې پیړۍ نیمګړتیا
«هرڅه بایلل یا هر څه لاس ته راوړل»
دا به زمونږ د بیرغ شعار وي.

اوږد دوران مو شاته پریښود
دا شان چې دا هیواد زمونږ هم و
دا هیواد زمونږ هم نه و
اوس باید ښکاره کړو
چې له دې وروسته خپلواک یو.

که برخلیک مو د نابودۍ دی

پرېږده  چې نابود مو کړي
اقرار کوم چې له مرګه وېرېږم
خو يوازې له شرمېدلي مرګه.

که ژوندي پاتې کېدی نشوو
ښايي مړه شوو
خو د قهرمانانو په شان مړه شوو
دا شان مړه شوو
چې ان هغوې چې مونږ له ځمکې تري تم کوي
پر مرګ مو وژاړي

اې کاش نن مونږ ټول
د **ميکلوش زريني** بچيان وې *
او هر څوک داسې جنګېدی
چې ګواکې وطن يې يوازې هغه ته سپارلی.

هغه وخت...
هغه وخت به نور نه مرو
هغه وخت به وياړ او ژوند راته په تمه وي
هغه وخت به تل زمونږ وي
هغه نعمتونه چې مونږ يې هيله درلوده.

پاڅېږه زما وطنه!
پاڅېږه زما ملته!

ای د مجار ولسه!
په یو یون د جګړې ډګر ډک کړه
د تندر په شان ناڅاپي
راپریوزه پر دښمن.

رانه پوښتئ دښمن چیرې دی؟
آه! پوښتنه یې مکوه
دښمن په هر ځای کې شته
هرچیرې چې وګورئ
دښمن به وګورئ
له ټولو خطرناک هغه کس دی
چې د ورور په شان دې تر څنګ دی.

خچن دښمن مو په منځ کې دی
هغه بیشرفه او خاین ورور دی
چې په یو تن سلګونه تنه فاسدوي
هغه شان چې یو څاڅکې زار د شرابو جام ککړوي.

دښمن باید ووژنو
که دښمن مو ان سل زره غاړې پرې کړي
په کوڅو کې د خاین د وینو څپه
باید تر کړکیو ورسوو.

کله چې دا شوکماران زمونږ په منځ کې نابود شي

مونږ به بهرنی دښمن په آسانه وشړو
ای زما چنګه!
اوس یوی خوا ته شه....
منهٔ وهم د ساتندویه څلي په لور
څو د خطر جرسونه په انګازو کړم.

اګست ـ ۱۸۴۸

* د مجار قهرمان چې په ۱۵۶۰ کال کې له ترکانو سره په یوه قهرمانانه جګړه کې ووژل شو.

# جمهوریت

ای جمهوریته!
ای د آزادۍ بچیه!
ای د آزادۍ مور چې له نړۍ سره مهربانه يې
ای د راکوتسیانو* په شان پټ شوی
زه له نژدې تا ته سلام کوم
زه له لیرې تا ته سلام کوم.

اوس چې دې نوم وېرجن اوکرکجن دی
اوس چې ویاړ هغوې ته بخښل کیږي
چې غواړي تا په صلیب کړي
زه همدا اوس چې لیرې يې تا ستایم

کله چې بریمن دښمن لت پت په وینو
تر خپلو پښو لاندې غورځیدلی ووینئ
ستا ستایونکي به بی شمیره وي
خو زه همدا اوس تا ته خپل درودنه دراستوم

ای ویاړلی جمهوریته، ته به بریالی شی
له ټولو ځمکني ستونزو سره
له ټولو آسماني ستونزو سره
د یو نوي ناپلئون په شان
ـ خو پاک او سپیڅلی ـ

ته به پر ټوله ځکمه واکمن شئ.

هغه څوک چې ستا د خوږو ليدو په وړاندې
چې په کې د دوستۍ ډيوه بليږي
تسليم نشي
هغه به له پښو وغورځوي
ځلانده مرګوني توره ستا په توانمن لاس کې.

ته به سوبمن يې
د ګلونو په ډک چمنونو کې، شايد
د وينې د يو سيند په ژورتيا کې، شايد
ستا د بريا په پار يو ستر طاق ودان کړي

د دې ځلانده او پرتمين جشن لپاره
زه به ژوندی پاتې شم؟
که مرګ به ما له ځان سره ويسي
او د قبر په ژورتيا کې به مې اسير کړي؟

که  د دې ستر جشن ليدل مې په نصيب نه وي
ای دوستانو
ما راپه ياد کړئ
زه جمهوريت پالونکی يم
ان په خپل قبر کې
د خاورې په سينه کې

زه به جمهوریت پالونکی ووسم.

قبر ته به مې راشئ
هلته به فریاد کړئ: ژوندې دې وي جمهوریت!
زه به مو غبږ واورم
د خونړي زړه پر ایرو به مې آرامتیا خپره شي.

اګست ـ ۱۸۴۸

* راکوتسیان د مجاریانو د امراو له کورنیو څخه ول چې د ترانسیلواني په ناحیه کې ژوند کاوه. دوې په زړورتیا د ترکانو په برابر کې وجنګېدل او ووژل شول.

# انقلاب

په غبږ مې د بې غیرتانو رنګ تښتي
ځکه چې زما سرود د توپان وږاندوینه ده
انقلابه!

غمژن دوران
د بدمرغیو روزګار
پلرونو خوشې کړئ
ای زما وطنه!
زما ملته!

د دې لپاره دې یوغ مات کړ
ځنځیرونه دې وشلولئ
چې پر لاسو دې لا دروند ځنځیرونه راتاو شي؟!

لا دې په ناروغه څیره ګرد پروت دی
برخلیك دې بیا په خاورو کې لړي
دا د تقدیر کار نه دی،
دا دې د بچیانو تکل دی چې سپکوي دې
لویه ګناه، کرغیړن جنایت و
د آسمان سخت غچ یې جزا شه!

ای وطنه! ته دې سپیڅلی سر کښته کوئ؟

د شرم رټه د ویاړ د خول پر ځای منئ؟
مخکې له دې چې د اسارت یوغ دې په غاړه واچول شي
ته په خپله، خپل ورمیږ پرې کړه، ای وطنه!
چې ستمګر دې جسد په ځنځیر وتړي
بریا یې په ګورستان کې مخ په وړاندې تلل وي
پریږده چې خپل تخت ستا پر قبر کیږدي
ستا د قبر پر چینجو سلطنت وکړي.

وطنه! ته به تسلیم نشئ
وینم د قهر اور دې څیره روښانه وي
لاس به دې توري ته وغځیږي
بې له تا څوک سرلوړی آزاد ژوند کوي؟

میینې! ژر کړه شونډې دې راکړه
هلکه، د شرابو جام راوړه
تر هغه چې شراب ختمیږي
ښکلول پاې ته رسیږي
زمونږ د یون بیرغ باید ورپیږي.

په غبږ می د بی غیرتانو رنګ تښتي
ځکه چې زما سرود د توپان وړاندوینه ده
انقلابه!

اګست ـ ۱۸۴۸

# سرتیرو ته درناوی وکړئ

زه یو افسر یم....
کله چې سرتیري ما ویني
سلامي کوي او له شنګه مې تیریږي
زه خجالت وباسم، سور کیږم
فکر کوم چې دا سم کار نه دی
دا سم کار نه دی
زه باید هغوې ته سلامي وکړم
ځکه هغوې له مونږ ډیر ارزښتمن دي
د سرتیرو درناوی وکړئ
هغوې له صاحب منصبانو ډیر ارزښتمن دي.

مونږ افسران او سرتیري سره یوځای جنګیږو
مونږ پوهیږو چې د څه لپاره جنګیږو
ځکه یو څه لرو چې د هغه لپاره بریا وغواړو
ایمان لرو
یا شاید شتمنی
یا د ویاړ بریښنه جاذبه
له ځلاندو سترګو سره.
سرتیرو ته درناوی وکړئ
هغوې له صاحب منصبانو ډیر ارزښتمن دي.

هغوې ایمان نه پیژني

هیواد؟....
د هغوې لپاره میرنۍ
د زیار د خولو په برابر کې
یوه مړۍ ډوډۍ یې مخې ته اچول کیږي
یو ککړ موټی پر مخ وهل کیږي
کله چې د بیرغ لاندې ځي
پخوانۍ نیستي یې په نوې نیستۍ بدلیږي.
سرتیرو ته درناوی وکړئ
هغوې له صاحب منصبانو ډیر ارزښتمن دي.

دوې څه پوهیږي چې ویاړ څه ته وایي
که یوه هم شي څه ګټه تر لاسه کوي
د تاریخ کتاب داسې پاڼه نلري
چې یوه کرښه یې هم د دوې په نامه لیکل شوي وي
چا کولاې شول د دوې ټولو نومونه ولیکي
چې خپله وینه یوځلي قربانوي
چې خپله وینه یوځایي قربانوي
سرتیرو ته درناوی وکړئ
هغوې له صاحب منصبانو ډیر ارزښتمن دي.

که له جګړې راستانه شي
وطن ورته د سوالګرۍ امسا وربخښي
که په جګړې کې مړه شي
په قبرونو، نومونه یې د هېرېدنې دوړه شیندي

خو دوې بيا هم په زړورتيا جنګيږي
د غليم د تورې او اور سره مخامخ کيږي
سرتيرو ته درناوی وکړئ
هغوی له صاحب منصبانو ډير ارزښتمن دي.

اکتوبر او نوامبر ـ ۱۸۴۸

# ۱۸۴۸

اتلسوه اته ځلوېښت!
ای روښانه ستوری!
ای د ملتونو د سباوون ستوری!
ورځ راختلی، ځمکه ويښه شوی
شپه تښتي د سباوون په ځړيکه
ښکاره کړی شفق سره ځيره
سور تندی يې زموږ پر نړۍ
د حيرانتيا رڼا
شومې وړانګې
شيندي
دا د وينې، دا د قهر، دا د شرم سوروالی
د هغو خلکو په سترګو کې ځليږي
چې راويښيږي.
مونږ د شپې له اسارته شرمجن يوو
ای ستمګرانو، قهر به مو وورېږي پر تاسو
له سهارنۍ دعا مخکې
خپله وينه به د خدای په قربانګاه کې ورکړو
دښمنانو د خوب په ناخبرۍ کې
زمونږ د زړه وينه توييه کړه
چې د ژوندانه لمبه مو ووژني
خو د ملتونو په رګونو کې کافي وينه شته

چې خپل فرياد بيا آسمان ته ورسوي.

سيند په حيرانتيا کې ډوب شوی
غلی شوی
سيند ودرېږي
ځمکه لړزېږي
وچې ځپې ځپانېږي
سر راپورته کوي د ډارونکو باريکادانو په شان*
بېړۍ خوځېږي
بادبانونه يې
مات
ځيري
چتړ د کشتيوان د زړه په شان
چې د شکنجو په منځ کې يوازې
وحشتځپلی
له خپلو ارغواني زړو جامو سره ودريدلی*

ځمکه د جګړې يو پراخه ډګر
هر سړی يو سرتيری
هر لاس يوه توره
دا څه دي زما تر پښو لاندې:
شليدلې ځنځيرونه!
مات شوي تاجونه!
ټول د اور په لمبو وسيزئ!

نه!
نه!
دا ټول موزيمونو ته وسپاروو
نومونه يې ورباندې وليکوو
که داسې ونکړو
اولادونه به مو د دې ا وسپنو په مانا پوه نشي.

اى ځلانده دورانه!
د مقدراتو وړاندوينه تحقق مومي
يو ګل، يوه ورشو
ټول له يوه باور سره:
آزادي!
نا باوران به سخته سزا ومومي
زاړه بتونه
ړنګيږي
له ډبرو يې
نوې معبد ودانيږي
سقف به يې شين آسمان وي
لمر به يې قنديل د محراب وي.

اکتوبر ــ نوامبر ـ ۱۸۴۸

* باريکارد، هغه مورچلونه دي چې انقلابيان يې په کوڅو او واټونو کې جوړوي.
** د اتريش امپراتور ته اشاره ده.

# د ترانسیلوانی پوځ ته

مونږ ولې بریالي نشوو
چې **بم***
د آزادۍ نومیالی اتل مو رئیس دی؟
په وړاندې مو د غچ د رڼا په څیر ځلیږي
د **اوسترولنکا**** په وینو رنګین ستوری

زوړ سرلاری له خړو ویښتو سره مخې ته روان
سپینه ږیره یې د ځپاند بیرغ په شان رپیږي
دا د سولې نښان
سوله هغه ډالۍ ده
چې د بریا وروسته یې په تمه یوو

زوړ سرلاری مخې ته روان
له شا یې مونږ د وطن ځوانان
د هغه زوړ توپان په شان
چې له شا یې رارسیږي سرغړونکی سیند ځپان.
مونږ متحد شوي دوه ملتونه
**لهستاني** او **مجاري،** څه ستر ملتونه
له دې ښکلې برخلیک شته
چې مونږ یې یوځای هیله من یوو دواړه ملتونه.

موخه مو یوه:

د ځنځیرونو ماتول

د اسارت هغه ځنځیرونه ماتول
چې دواړه یې یو شان په لاسو کې لرو
مونږ به دې هدف ته ورسیږو
ستاسو په خونړیو تیږونو قسم خورو،
ای کړیدلي هیوادونو.

ای تاجداره شوکماره***
مزدور لښکر دې زمونږ د ځپلو لپاره رالیږلی شی
له دې ځایه تر دوزخه
به مونږ د هغوې له نعشونو تا ته پُل جوړ کړو!

مونږ ولې بریالي نشوو
چې **بم**
د آزادۍ نومیالی اتل مو رئیس دی؟
او په وړاندې مو د غچ د رڼا په څیر ځلیږي
د **اوسترولنکا** په وینو رنګین ستوری.

مارچ ـ ۱۸۴۹

**Bem** ، لهستاني جنرال و چې د مجارستان د آزادي غوښتونکوځواکونو په چوپړ کې و او د ترانسي پوځ قومانده یې په غاړه درلوده.
** اوسترولنکا، د هغې سیمې نوم دې چې لهستانیانو هلته د آزادۍ په پار له روسي تزاري ځواکونو سره سخته جګړه وکړه.
*** منظور د اتریش امپراتور دی.

# وحشتناکه دوران

ای وحشتناکه دورانه! وحشتناکه دورانه!
وحشت شیبه په شیبه زیاتیږي
شاید آسمان
قسم خوړلی وي
چې ټول مجاریان نابود کړي
له سره تر پښو مو وینه تویيږي
ولې تویې نشي؟
چې نیمایي نړۍ
خپلې توري مونږ ته نیولي. *

هلته زمونږ په وړاندې جګړه ده
چې دومره بده بلا نه ده
بده بلا یې شا ته راروانه ده
د طاعون بلا راروانه ده!

وطنه!
ته له کړاونو خپله برخه
دوه چنده تر لاسه کوئ
مرګ دوه لاسي او په خلاصه غیږه
ستا دښتې ریبي.
مونږ ټول تر وروستي کسه پورې
نابودیږو؟

که  داسې کس به را پاتی شي
چې د دې وحشي دوران
د دې جنایت
ټول تاریخ ولیکي؟
وبه کړای شي د دې وحشتناکه تاریخ
پیلامه تر لاسه کړي؟
که څوک د هغه روزګار چې پر مونږ تیریږي
ربښتینی نکل واوري، نو باور به وکړي؟
دا به څوک وي چې باور کړي
چې دا ټولې بدمرغۍ مو ولیدی!
دا به څوک وي چې د دې روزګار په اوریدو
فکر ونکړي چې دا ټولې د یوه لیوني له مغزه
هسې راوتی اپلتې دي!

۶ ـ ۷ جولای ـ ۱۸۴۹
دا د شاندور پتوفي وروستی شعر دی.

* د اتریشي امپراتورۍ او د تزاري روسیې د ګډو ځواکونو تیري ته اشاره ده.

مینه او آزادي

دواړه غواړم

ځان مې قربانوم

د مینې لپاره

او مینه مې

د آزادۍ لپاره

پتوفي